# ادبي ورانګې



Ketabton.com

سید اصغر هاشمي

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادبي وړانګې

سید اصغر هاشمي

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: ادبي ورانگې

ليکـــوال: سيد اصغر هاشمي

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنگي څانگه

وېـبپـاڼه: www.melitahrik.com

ډيزايـنگر: ضياء ساپی

کـــمپـوز: ليکوال

پښتی ډيزاين: فياض حميد

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۴۹)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیک** **مخ**

سریزه.............................................۱
د غني او الفت په شعرونو کې د اضدادو فلسفه...............۳
د استاد الفت په شعرونو کې ریالیزم..........................۹
د استاد الفت په شعرونو کې د ازادۍ پیغام................۱۵
د ګل پاچا الفت په شعرونو کې اروا‌پوهنیز‌څرکونه.............۲۷
د استاد الفت په کلیاتو کې د فلسفي شعرونو څرکونه.........۴۲
د خوشحال قصیدو ته انتقادي کتنه...........................۵۱
د شعر او نظم توپیر او تړاو.................................۵۵
د سیدجمال الدین افغان ستاینه.............................۶۰
د تحقیقي اثر د لارښود ځانګړنې.............................۶۵
په تحقیق کې د سرمحقق زلمي هېوادمل مقام..................۶۹
ناشعوري، شعوري اوتحت الشعوري شاعري.........................۷۳
د ناول او رومان توپیر او تړاو..............................۹۱
د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې هیومانیزم..............۹۸
ماخذونه...........................................۱۰۳
د پښتوادب نوې ښکلا او د هاشمي د ادبي پنځونوهارونه.......۱۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

استاد ګل پاچا الفت مفکر او مبتکر لیکوال، شاعر، ژورنالیست، ادبپوه او ژبپوه دی او د ادب تیورۍ په برخه کې د ده کارونه لومړني دي.

استاد الفت مستحق لیکوال دی او دې باندې باید ډېر کار شوی وای، چې پرې نه دی شوی او د ایندوو نسلونو نه هیله کوم چې د استاد تخلیقات (منظوم او منثور) ویناووي مطالعه کړي او له فکره یې استفاده وکړي، خو د استاد د فکر څرګندولو لپاره علم او بیا فکر کولو ته ضرورت دی او د علم په لاس ته راوړلو او فکر کولو باندې استاد ډېر تاکید کړی دی.

د استاد ډېرې خبرې دي چې له وخته مخکې یې ویلې دي، یعنې د اینده نسلونو لپاره پکې ډېر نصیحتونه شته دي او پیش ګویي یې کړې ده.

دی د ماضي (تېر) وخت مطالعه درلوده، د حال په قدر پوه او د راتلوونکي نه باخبره وه. په نړۍ کې ډېر کم فیلسوفان او مفکرین پېښ بیني کولای شي، چې استاد الفت هم یو له هغو مفکرینو څخه دی.

د شعري کلیاتو په یو ځای کې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـمه نيمــه شــپه ده ســودايي لــه خوبــه پاڅېــدم
ځکــه مــې ګــډوډ او پرېشــان دغــه شــعرونه دي
اوس يې که څوک نه لولي عالم پـه خوب ويده دی ټول
دا د ســبا ورځـــې ويښ زلميــو تــه پيغامونــه دي

استاد خپل شعرونه او په هغه کې د مفکورې برخه آينده ځوانانو ته د يو ښه پيغام او لارښوونې په ډول وړاندې کوي.

استاد د ډېرې يادونې او ستاينې وړ شخصيت دی او زما د بې ساري مينې چې استاد سره يې لرم، کله کله د دې د کړو او ليکنو پـه باب پرې کرښې تورومِ او دغـه د مقالو ټولګه (ادبي وړانګې) مې د ځينو مقالو مجموعه ده، چې متفرقې مقالې لري، چې زياتې مقالې مې پـه استاد ليکلي دي، او دغـه ټولې مقالې مې يو ځل پـه تانـد ويبپسايټ کې خپرې شوي دي، خو د ځينو دوستانو په غوښتنه مې پـه کتابي ډول چاپ ته برابره کړه.

په درنښت

سيد اصغر هاشمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غني او الفت په شعرونو کې د اضدادو فلسفه

د فلسفې د يوې څانګې په ډول د استاد ګل پاچا الفت او خان عبدالغني خان په شعرونو کې د اضدادو فلسفې په هکله شعرونه شته دي.

استاد الفت وايي: ټوله نړۍ له ضدينو جوړه ده، که د انسان د زړه خوښه وي او که نه وي، له دې اضدادو سره به وخت او ژوند تېروي.

د غني خان په شعرونو کې هم د ژوند او مرګ په هکله فلسفي شعرونه شته دي، چې د اضدادو د فلسفې د ډېرې ښې نمونې دي.

استاد ګل پاچا الفت پخپل (شعري کليات، ص ۱۰۴) کې د (آغاز او انجام) تر سرليک لاندې داسې وايي.

لــــه اســــمانه څـــاڅکي راغلــــه د بـــاران
پـرې را شـنه شـوه سـپين و سـره او زيـړ ګـلان
يــو څــو ورځــې پــس يــې بـاد ويــوړلې پــاڼې
خپـــل آغـــاز آنجـــام هـــيڅ نـــه شـــو ور عيـــان
پــه زرګونــو کلــو ګــورو چــې ژونــدون شــته
حرکـت شــته لو بـدل شـته مخکــې يــون شــته
لــــه آغــــازه لــــه آنجامــــه خبــــر نــــه يــــو
دومـــره وايـــو چـــې دورونـــه د ګـــردون شـــته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان د پیدا ایښت ورځ او د مرګ ورځ الله تعالی ته معلومه ده او په تقدیر کې لیکل شوي وي.

هیڅ انسان نه شي کولای، چې د بل انسان د مرګ وخت په دقیقه موده او وخت کې وښایي.

استاد الفت هم داسې نظر لري او د پورته راغلي شعر مفهوم دی: له اسمانه بارانونه راوربږي، ددې بارانونو له امله ټول بوټي شنه کېږي او ډول ډول ګلان پیدا کېږي، د څو ورځو وروسته د همدې شنه شوو بوټو او رنګارنګو ګلانو پاڼې د خزان د شمالونو له راتګ سره له منځه ځي، دغه بوټي په دې پوه نه شول، چې څنګه پیدا او فنا شول.

انسانانو هم په زرهاوو کلونو ژوند وکړ، حرکت، کار او هلې ځلې یې وکړي، همدا انسان له خپل پیدا ایښته او مرګه خبر نه دی.

دلته هم د ژوندون او د مرګ په فلسفې په هنري، شعري او فکري انداز بحث شته دی، استاد الفت د ژوند او د مرګ په باب داسې نظر لري، چې د انسان د ژوند نېټه او د مرګ نېټه نامعلومه ده، نو په داسې بې اعتباره ژوند بیا اعتماد په کار نه دی.(۱)

استاد ګل پاچا الفت په نثري کلیاتو ، ۱۸۵ مخ کې د (غم او خوشحالي ) تر عنوان لاندې داسې وایي: (ډېر خلک دي، چې یوه ورځ یې ګرانه ښځه مري او دی غمجن کېږي، مګر بله ورځ نوی واده کوي او د خوشحالۍ هغه زوږ غم ببخي هېروي، نو دغه د خوشحالۍ ډولۍ او هغه د غم جنازه یو له بله ډېر ربط لري، که هغه غم دغه کاله ته رانه شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ښادي هم نه شي راتلی.(۲)

د استاد په شعري کلیاتو کې فیوډالي نظام ته اشاره کوي او وايي:

غنـــا پــــه فقـــر حکومـــت کانــــدي
بــــډایان لـــوړوي پــــه نــــورو بانــــدې
راســــره شــــته دي ډېــــر عزتونــــه
پــــــه ماســــــمېږي واړه کارونــــــه
پــــه خزانــــو مــــې فخــــر شــــاهان کــــړي
جګــــړې جنګونــــه پــــه مــــا انســــان کــــړي

په پورته راغلي شعر کې هم د مالدار او غریب یا د مال او پیسو خاوند او مفلس یادونه شوې ده، چې که فلسفي بحث پرې وکړو، نو د اضدادو فلسفې بحث ترې لاس ته راځي.

غني خان د مرګ او ژوند په باره کې داسې نظر درلود: دا د نور او نار دنیا د اضدادو نه جوړه ده، د هر شي ضد شته، ژوند سره مرګ تړلی دی او یو د بل ضد دي. د ژوند سره، رڼا او تیاره، ګل او اغزی، ټول د ژوند سره تړلي دي.

که د انسان د زړه خوښه وي او که نه وي، ددې اضدادو سره به وخت او ژوند تېروي. د انسان مرګ د انسان د زېږېدو له ورځې د هغې سره یو ځای پیدا شوی دی. او هر ساکښ شی به یوه نه یوه ورځ د منځه ځي او مړ کېږي به.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو انسان هر څو مره قوي، عالم، فاضل، مالداره او د دُنیا هر څه ورسره وي، بیا هم مړ کېږي.

غني خان وایي، مرګ په حقیقت کې د انسان ژوند دی، انسان باید خپل مرګ ته خفه نه شي، ځکه د انسان ژوند بعد له مرګه شروع کېږي.

رښتیا که انسان دینداره او د الله تعالی ټول اوامر یې پر ځای کړي وي او د الله تعالی په لورېینې او پیرزوېینې د جنت دروازې یې پر مخ خلاصې شي، نو ژوند بیا هلته ژوند دی، نه دې دنیا کې.

کله چې خزان د پسرلې ګلونه ورژوي، پسرلی ورته وایي: ته ما وژلی نه شې، دا مرګ مې د نوي ژوند زیری دی.(۳)

نو د مرګ نه پس ژوند شروع کېږي. که په ژوند کې اضداد نه وي، وخت به په انسان نه تېریده، ژوند به بې خونده وي، لکه:

چې په ژوند کې سخته نه وي
لکه بې مالګې طعام
چې په خوله کې خندا نه وي
لکه ډک د خاورو جام
چې ځواني کې تکلیف نه وي
لکه پټه میان کې توره
نه یې پړق شي نه یې شرنګ شي
په زنګونو شي رنځوره
ژوند که تش فیرني ښځل وي
دا خو سپې هم شي ښځلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــــه تــــش نســـل زيـــاتول وي
دا غويـــه هـــم شـــي کـــولی
ژونـــد نـــه خيټـــه نـــه مـــانۍ وي
نـــه ډ بـــرۍ د ســـرو لالونـــه
نـــه يـــاران نـــه معشـــوقې دي
نـــه باغونـــــه د ګلونـــــو
ژونـــد خـــو تلـــه دي يـــو پـــه مخـــه
غورځېــــدل او پاڅېــــدل دي
ټکـــی ســـوز او ټکـــی ســـاز دی
څـــه خنـــدل دي څـــه ژړل دي
ژونـــد پـــه ســـترګو د عاشـــق کـــې
پلوشــــــه ده د خمــــــار
پـــه صـــحرا کـــې لټـــول دي
د اشـــــنا د کـــــوڅې لار

(۴)

غني خان وايي: په ژوند کې خوشحالي او خفګان دواړه بايد موجود وي، که ژوند کې سختي او خفګان نه وي، دا سې مثال لري، چې غذا کې مالګه نه وي، دا چې بې مالګې طعام خوند نه لري، دغسې د خفګان نه بغير خوشحالي خوند نه لري.

د غني خان د ژوند او مرګ د فلسفې په اړه خپل نظر دی، د عام انسان فکر د غني خان فلسفي فکر ته نشي رسېدلای، هغه يو مفکر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیلسفوف دی. یو عام انسان ته خو مرګ د ژوند خاتمه ښکاري، خو هغه وایي، چې مرګ ژوند نه شي وژلی، لکه:

که لکو نه ژوندي مړه کړي
ژوند څوک نه شي مړ کولای
چا د بوي نه منع کړی
شنه ګلو نه د ریحان

د غه د غني خان یقین او ایمان دی او د دې دغه دعوه بالکل صحیح او پر ځای ده، هغه نن هم ژوندی او سبا به هم ژوندی وي او تر کومه چې پښتو ژبه او ادب وي، غني خان څوک نه شي وژلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد الفت په شعرونو کې ریالیزم

د منځپانګې له مخې د استاد په شعرونو کې ریالیستک شعرونه ډېر پیدا کېږي.

پښتو - پښتو تشریحي قاموس کې د (ریالیست) په باب لیکي: (ریالیست ربښتونی، ربښتینی، ربښتین، حقیقت غوښتونکی، حقیقت لیدونکی، د ریالېزم د هنري او ادبي مکتب او هنري اسلوب پیرو، واقعي، حقیقي) په معنا دی. (**۵**)

ریالیست لیکوال به ضرور د ریالېزم د ادبي مکتب پیرو وي، په تشریحي قاموس کې د ریالېزم په اړه لیکي: (ربښتینواله، حقیقت غوښتنه، واقعیت غوښتنه، د واقع اصالت، حقیقت پالنه) ته وایي.

د استاد ګل پاچا الفت د شعرونو ډېره برخه ریالیستیک شعرونه دي، چې د انتقادي ریالېزم اساس جوړوي.

(د ادب د تیورۍ اساسونه) لیکوال سر محقق دوست محمد دوست شینواری د (Marcel Praust) فرانسوي لیکوال په حواله د ریالېزم په باب تفصیلي بحث کړی دی، چې زه مې د موضوع اړوند خبرې ترې راکښم: (ریالېزم زموږ د عصر د ادب او هنر اساسي مېتود دی، ادب او هنر په زرګونو پېړیو لاره ووهله، چې ځان یې د بداعت دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ مېتود ته ورساوه، د دغې کلمې ريښه د ژوند د هغو ربښتينو واقعيتونو بديعي تصوير او انعکاس دی، چې هنرمند او ليکوال يې د خپل چاپېريال د اړيکو په هينداره کې ګوري. د سوسياليستي رياليزم موسس ماکسيم ګورکي د رياليزم خصوصيت ته لنډه اشاره کوي: رياليزم څه شی دی؟ په لنډه توګه بايد ووايو، چې د ژوند د واقعيت عيني انځور دی، داسې انځور چې ژوند د پېښو له هرج مرجه له خورا عمده انساني اړيکو څخه اخيستل شوی دی. ) (۲)

د فرانسوي ليکوال په تاييد استاد الفت هم د ټولنې واقعي عيني انځور په داسې ډول وړاندې کړی دی، چې ربښتينوالې، حقيقت پالنه او حقيقت غوښتنه په کې له ورايه ځرګند بري.

سر محقق دوست شينواري د رياليزم د پېژندنې په بحث کې ويلي دي: رياليزم په ادب او هنر کې يوه داسې مېتوديکه لاره ده، چې له ليکوال او هنرمند څخه د پېښو د بشپړ ربښتوني ترسيم او تصوير غوښتنه کوي.

رياليزم تعريف او تعبير په ډول ډول شوی، خو په لنډ ډول يې داسې پېژندلی شو، رياليزم په ټيپيکو شرايطو او اوضاعو کې د ټيپيکو پېښو، ټيپيکو وګړو او ټيپيکو کريکټرونو تصوير او ترسيم دی. رياليزم لکه د ادب او هنر د نورو مکتبونو په شان خاصه جهان بيني لري او له واقعيت او ژوند سره خاصه رابطه ساتي، رياليزم د يوې خاصې ډلې مخصوص صفات د عيني شرايطو له پلوه ګوري، زيار باسي هغه په ژور ډول مطالعه او هغه زده کړي او له ټولو خواوو يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیپونو ښودلو کې تصویر او ترسیم کړي. په عام ډول ریالېزم او په خاص ډول انتقادي ریالېزم، چې د استاد الفت په ویناوو کې ډېر لیدل کېږي، چې په ټولنې کې د استثمار، د ظالمانو پر ضد ویناوې او د دوی غندنې په کې ښکاره کېږي.

(د ادب د تیورۍ اساسونه) مولف سر محقق دوست شینواری د انتقادي ریالېزم په اړه وايي: (انتقادي ریالېزم سترو هنرمندانو ډېر ځله په طبقاتي ټولنو کې ذات البیني روابط غندلي او د هغوی په مقابل کې یې هغه روابط هم ښودلي دي، چې په اجتماعي عدالت او د بشر دوستۍ په لوړ احساس ولاړ وي، د انتقادي ریالېزم په بدیعي اثارو کې په غالبه توګه (زاید شخص) او د کوچنیو وګړو خبرې له بل هر څه نه زیات تبارز کوي، چې د طبقاتي ټولنې بې عدالتي او ظالم نظام د فشارونو په مقابل کې مقاومت کوي.

(د ادب د تیورۍ اساسونه) اثر ۱۲۱ مخ کې د روسي څېړونکي (ابراموویچ) د (ادب پوهنې اصول ۳۶۰ مخ) په حواله د انتقادي ریالېزم په باب وايي: (په انتقادي ریالېزم کې معمولا دوه ډوله ټیپونه او دوه ډوله جنجالونه لیدل کېږي.

الف: د وږي او ماړه، د بادار او مزدور، استثمار شوي او استثمارګر ترمنځه روابط او جنجالونه.

ب: د حاکمې طبقې د زبېښاکګرو ترمنځه، مبارزه چې پخپلو کې یو له بله د رقیب د کمزوري کولو په غرض سره خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته په انتقادي ريالېزم کې د مثبت هيرو ګانو انځور او هغه شرايط چې د غه هيرو روزي، غالبا خړ پړ او تت غوندې وي، ځکه چې د هغه ايډيالي تصوير بيا هم په واقعي او رياليستيکو شرايطو کې جوړېږي او رياليستيک شرايط په طبقاتي ټولنې کې د مثبت هيرو جوړېدو لپاره ګران تمامېږي. لکه چې وويل شول، چې د انتقادي ريالېزم د پراختيا او ودې زانګو او ټاټوبی هغه طبقاتي ټولنې دي، چې د ظالم او مظلوم ترمنځ روابط په کې حاکم وي، د انتقادي ريالېزم ليکوال د غه روابط او د هغه شرايط افشا کوي.) (۷)

په طبقاتي ټولنو کې رښتيا هم چې انتقادي ريالېزم ستر مقام لري، خو په بې طبقاتي ټولنو کې د هغه لپاره نور ځای نه پاتې کېږي او خپل ارزښت له لاسه ورکوي، په ختيځ کې عموما او د پښتو په ادب کې خصوصا انتقادي ريالېزم د شلمې پېړۍ د او ايلو زېږنده ده.

د ويښو زلميانو د غورځنګ شاعرانو او ليکوالانو د پښتو ادب لپاره مهم کارونه کړي دي، په پښتو ادب کې همدغه وخت انتقادي ريالېزم را پيدا شو، په وده يې پيل وکړ، همدغه وخت غريب او بېوزله وګړي د ادبي اثر د هيرو په توګه د ادبي آثارو په مرکز کې ځای ونيو او د بې عاطفې او بې مغزه په توګه د ادبي اثارو په مرکز بدای ځېره انځور او افشا شوه، له همدغه وختنه وروسته په پښتو ادب کې انتقادي ريالېزم د پښتو ادب د اساسي مېتود په حيث منځته راغی او لا زياته وده يې وکړه، په همدغه وخت کې چا پخپلو نظمونو او يا نثرونو کې د جامعې فسادونه او فاسد عناصر، سود خواره، رشوت خواره، د خور او لور

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلورل، د پردیو څمکو غصبول وټکول او ځینو د انتقاد قلم د دربار خوا ته متوجه کړ، د دغه وخت تخلیقي ډېر آثار دغه خصوصیت لري، البته د دربار ټکولو خاص تاکتیک او خاص طرز لاره، چې د لیکوالۍ او شاعرۍ خاص مهارت یې غوښته، په دې باب اروا ښاد استاد ګل پاچا الفت او عبدالرووف بېنوا د خاصې یادونې وړ دي، د الفت دا څو بیتونه وګورئ:

نه مې د چا مال خوړلی نه مې څوک وژلي دي
نه مې کله ورک شه یا ګمشو چاته ویلي دي
بله ګناه نه لرم په دې ګناه مې مه نیسه
زړه کې مې که پټ ظالم ته بد غوندې کتلي دي
زه یې په لیدلو په کتلو ګناهګار شومه
نور یې په کولو په عمل باندې ښاغلي دي
لوړ مقام ته رسي چې بوټونه پاکوي د بل
ډېر په دغه شغل ریاست ته رسېدلي دي
هیڅ امید تري مه کړه که څوک ځان د تا غلام ګڼي
ما غلامانه ذهنیتونه پېژندلي دي
دا چې ټیټ سرونه ستا په مخ کې سمېد ای نه شي
ستا مخ کې چې سم نه شول سم کله چلېدلی شي

د استاد الفت منظومې او منثورې تخلیقي وېناوې ډېرې نمونې ریالېزم لري او استاد ته یو ښه ریالیست شاعر ویلی شو.

دده انتقاد پرځای او د ټولنې د اصلاح لپاره دی، یو بل ځای پخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليات کې وايي:

يـــو شـــان نـــه دي نصـــيبونه قســـمتونه
کاتبـــــانو د ازل کـــــړي فرقونـــــــه
چـــا بانکونـــه دي ډک کـــړي پـــه ډالـــرو
چـــا پخپلـــو خـــدمتونو تاريخونـــــه

❀❀❀

يـــو وکيـــل تـــه زوی ويـــل چـــې ولـــې پـــلاره
کـــار تـــه نـــه ځـــې تنخـــا اخلـــې لـــه ســـرکاره
هغـــه ووې چـــې پـــه کـــار او پـــه خـــدمت خـــو
تنخـــا ګـــانې مـــزدور اخلـــي لـــه بـــاداره

(۸)

پـه پورتـه راغليوبيلګـو بسـنه کـوم او دومـره وايـم، چـې د اسـتاد د شعرونو ډېره برخه انتقادي رياليزم جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد الفت په شعرونو کې د ازادۍ پیغام

د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې د ازادۍ په باب ډېرې ويناوې شته دي، ملي ازادي، د فکر ازادي او بيان ازادي دده د شعرونو يوه لويه او مهمه برخه جوړوي.

د استاد الفت شعري کلياتو کې د (ازادۍ) تر سرليک لاندې يو شعر دی:

په ښـــرې کـــې ښـــه يـــم زه آزاد فقيـــر
نـــه وربښـــمو کـــې چينجـــي غونـــدې اســـير
پـــه خمتـــا کـــې حـــر آزاد ښـــه دی ســـل ځلـــه
لـــه غلامـــه چـــې لبـــاس يـــې وي حريـــر
د وژغنـــو پـــه کېـــږدۍ کـــې کـــه آزاد يـــم
يـــو وبښـــته بـــه يـــې ورنـــه کـــړم پـــه کشـــمير
پـــه ويجـــاړه کـــې مرغـــان ځالـــه کـــې خـــوښ وي
پـــه قفـــس کـــې د ســـرو زرو وي زهيـــر
چـــې مرغـــان پـــه هـــوا ويـــنم چـــرګ پـــه ځمکـــه
راتـــه يـــاد د اســـارت شـــي بـــد تـــاثير
(۹)

د استاد الفت په شعري کلياتو کې (د آزادۍ وږمه، آزادي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزادۍ احساس او د یووالي ترانه) تر سرلیک لاندې د ملي آزادۍ ډېر ښه مثالونه شته دي، د استاد له کلیاتو د ملي آزادۍ په مفهوم یو بل شعر دی:

شـــهرت د عقـــل لـــه نامـــه د افلاطـــون نـــه ځـــي
د آزادۍ مینـــه هیڅکلـــه لـــه پښـــتونه نـــه ځـــي
کـــه هـــر څـــه لاړ شـــي لـــه دې دهـــر او جهانـــه ځنـــې
د بـــل لـــه مـــغ لانـــدې ژونـــدي ویښ ملتونـــه نـــه ځـــي
د آزادۍ معـــراج تـــه نـــه رســـېږي هغـــه کســـان
چـــې د غیـــرت او ننـــګ پـــه لار کـــې یـــې سرونه نـــه ځـــي
پـــه تـــوره بانـــدې چـــې مـــړ نـــه شـــي څـــوک یـــې نـــه پېژنـــي
دا ســـې مـــزار تـــه پښـــتنې ملالـــې نجونـــه نـــه ځـــي
ســـر و مـــال ځـــي د عشـــق پـــه لار کـــې خـــاورې کېـــږي زړونـــه
د لیلـــی مینـــه پـــس لـــه مرګـــه لـــه مجنونـــه نـــه ځـــي

(۱۰)

استاد په آزادۍ مین و او د اولس سوکالي او خوشحالي یې په یو آزاده ژوند کې لیده او نه یې غوښته، چې اولس دې په اسارت کې ژوند وکړي.

دوی یې د فکر کولو لپاره هڅول او دوی ته یې د بیان د آزادۍ جرئت ورکاوه، استاد الفت د بېته متوجه و، چې په افغانانو کې باید د فکر کولو تمرین ته لاره هواره کړي، دا خلک اړتیا لري، چې د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې، چاپېريال، د انسان او ټولنيزو اخلاقو په هکله سوچ وکړي، چې د بېته متوجه شي، چې بايد نيمګړتياوې اصلاح او ښېګنې لا ډېرې کړي، هو؛ فکر کول د انسان مفکوره پياوړې کوي او د ملي آزادۍ احساسات او جذبات په کې پيدا کېږي. (۱۱)

همدارنګه د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې د ملي ازادي په باب هم ډېرې ويناوې شته دي او د فکر ازادي او بيان ازادي هم د ده د شعرونو يوه لويه او مهمه برخه جوړوي.

د استاد الفت شعري کلياتو کې د (ازادۍ) تر سرليک لاندې يو شعر دی:

په ښــــار کـــې ښــــه يـــم زه آزاد فقيـــــر
نـــه وربښـــمو کـــې چينجـــي غونـــدې اســـير
پـــه خمتـــا کـــې حـــر آزاد ښـــه دی ســـل ځلـــه
لـــه غلامـــه چـــې لبـــاس يـــې وي حريـــر
د وژغنـــو پـــه کېـــږدۍ کـــې کـــه آزاد يـــم
يـــو وبښـــته بـــه يـــې ورنـــه کـــړم پـــه کشـــمير
پـــه ويجـــاړه کـــې مرغـــان ځالـــه کـــې خـــوښ وي
پـــه قفـــس کـــې د ســـرو زرو وي زهيـــر
چـــې مرغـــان پـــه هـــوا ويـــنم چـــرګ پـــه ځمکـــه
راتـــه يـــاد د اســـارت شـــي بـــد تـــاثير
(۱۲)

د استاد الفت پـه شـعري کليـاتو کـې (د آزادۍ وږمـه، آزادي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزادۍ احساس او د یووالي ترانه) تر سرلیک لاندې د ملي آزادۍ ډېر ښه مثالونه شته دي، د استاد له کلیاتو د ملي آزادۍ په مفهوم یو بل شعر دی:

شهرت د عقل له نامه د افلاطون نه ځي
د آزادۍ مینه هیڅکله له پښتونه نه ځي
که هر څه لاړ شي له دې دهر او جهانه ځنې
د بل له مغ لاندې ژوندي ویښ ملتونه نه ځي
د آزادۍ معراج ته نه رسېږي هغه کسان
چې د غیرت او ننګ په لار کې یې سرونه نه ځي
په توره باندې چې مړ نه شي څوک یې نه پېژني
دا سې مزار ته پښتني ملالې نجونه نه ځي
سر و مال ځي د عشق په لار کې خاورې کېږي زړونه
د لیلی مینه پس له مرګه له مجنونه نه ځي

(۱۳)

استاد په آزادۍ مین و او د اولس سوکالي او خوشحالي یې په یو آزاده ژوند کې لیده او نه یې غوښته، چې اولس دې په اسارت کې ژوند وکړي.

دوی یې د فکر کولو لپاره هڅول او دوی ته یې د بیان د آزادۍ جرئت ورکاوه، استاد الفت دېته متوجه و، چې په افغانانو کې باید د فکر کولو تمرین ته لاره هواره کړي، دا خلک اړتیا لري، چې د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې، چاپېريال، د انسان او ټولنيزو اخلاقو په هکله سوچ وکړي، چې دېته متوجه شي، چې بايد نيمګړتياوې اصلاح او ښېګڼې لا ډېرې کړي، هو؛ فکر کول د انسان مفکوره پياوړې کوي او د ملي آزادۍ احساسات او جذبات په کې پيدا کېږي.

د استاد الفت په تخليقي ليکنو نظم او نثر کې د فکر او وجدان آزادي هم ليدل کېږي.

استاد په نثري کلياتو، ۸۸ مخ کې د (نوي درس) ليکنې کې د فکر د آزادۍ په باب وايي: (زه د فکر آزادي له هرڅه پورته ګڼم، هرڅوک له ځانه خوابدی کوم، مګر خپل ځان او خپل وجدان خوشحال ساتم.)

استاد الفت د (فکر) تر عنوان لاندې د فکر د آزادۍ په هکله داسې وايي: (څو کاله د مخه چا په دې هېواد کې ښو ته ښه او بدو ته بد نه شو ويلی، څوک چې د فکر او رايې خاوندان بلل کېدل، په زندانونو کې واچول شول او فکرونه په کې مضمحل شول، اوس دنيا بل راز شوه او ددې عصر کارونه له موږ نه فکر غواړي او د پخو فکرونو تقاضا کوي، موږ اوس مجبور يو، چې فکر او د فکر خاوندان پيدا کړو، يعنې د فکر کولو مشق او تمرين وکړو، ددې مشق لپاره ميدان او غولی په کار دی، چې هغه جرايد او مطبوعات دي، مطبوعات بايد آزاد وي او آزاد فکرونه په کې ځای پيدا کړي، په دې کار کې ډېرې فايدې دي او دغه آزادي زموږ لپاره ډېره ضروري ده، اوس زموږ په مغزو کې فکرونه وچ شوي، موږ د فکر په توليد قادر نه يو، که چېرې د جرايدو او مطبوعاتو ازادي د يو قانون له مخې پيدا شوه، له دماغونو نه به څه وزېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرګرداني به ورکه شي.

هر یو به د خپل فکر په صحت او غلطۍ پوه شي، ځکه چې فکر آزاد شي، اقتصاد هم آزادېږي او هرڅوک ښو ته ښه او بدو ته بد ویلای شي، که فکر آزاد شي، هرڅوک به د خپل حق مطالبه وکړي او خپل حق به وغواړي. )

همدارنګه د استاد الفت یوه بله ادبي ټوټه (بې ګناه بندي) په نامه ده، چې د فکر د ازادۍ یوه ښه نمونه ده.

استاد الفت په نظم او نثر کې د فکر د آزادۍ په باب ډېر څه لیکلي دي، چې د نظم یوه نمونه یې (آزادۍ) تر عنوان لاندې داسې ده:

آزادي ده ژوندانـــــه لـــــره اکســـــیر
لـــوی دولـــت دی ورســـره خیـــر کثیـــر
پـــه عـــادي نظـــر کتـــل ورتـــه ګنـــاه ده
نـــاپوهي ده د وجـــــدان او د ضـــــمیر
پـــت عـــزت د ژوندانـــه آزادي بویـــه
بـــې لـــه دې وي ژونـــد ذلیـــل خـــوار و حقیـــر
آزادي د تـــن او غـــرو څـــه پـــه کـــار ده
کـــه دې فکـــر وي تړلـــی پـــه ځنځیـــر
چـــې آزاد فکـــر لـــري پـــه جېلخانـــه کـــې
دی آزاد دی نـــه غـــلام غونـــدې وزیـــر
پـــه تـــش لاس آزادي نـــه شـــي څـــوک ساتلی
آزاد نـــه دی بـــل تـــه اړ، وږی، فقیـــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــې وطـــن او ملـــک آزاد وي کلـــه ښـــايي
چـــې يـــې خلـــک د څـــو تنـــو وي اســـير
بـــاداري د زور او زرو چـــې کـــړي ورکـــه
ده همد غـــــــه آزادي ورړ د تقـــــــدير
(۱۴)

استاد آزادي د ژوند لپاره يو قيمتي څيز ګڼي او په عادي نظر ورته نه ګوري، دی وايي که د انسان ټول بدن په ځنځيرونو وتړل شي، خو چې فکر يې آزاد وي.

د استاد الفت په شعري کلياتو (۲۱۹مخ) کې (غريب ماشوم) تر عنوان لاندې يو شعر دی، چې د فکر د آزادۍ لپاره يو بهترين شعر او نوی فکر دی.

په دې شعر کې يې فکر د يو غريبې کورنۍ ماشوم سره تشبيه کړی دی، چې هر بل ماشوم هغه وهي او په ژړا کور ته راځي، هيڅا د غه ماشوم نه دی نازولی، هيڅا د دې پر سر لاس نه دی کش کړی او ګرد وهلی سر يې د هيڅا له خوا نه دی پاک شوی، دا د غريبې کورنۍ ماشوم دی، د خان د کورنۍ ماشوم نه دی، د غريبې کورنۍ ماشوم دی، ځکه مکتب او دفتر ته نه دی تللی او د لويانو په مجلس کې هم ناست نه دی.

د استاد الفت د غه پخوانی نظر ډېر پرځای دی، اوس هم د غريبې کورنۍ شخص ته وظيفه نشته، که د غريبې کورنۍ نه نابغه هم پيدا شي، په افغانستان کې ارزښت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد الفت د (صلح کل) تر عنوان لاندې وايي:

له واړه کوره راوځه لوی جهان سره اشنا شه
خيل او قام نه را اوچت شه له انسان سره اشنا شه
له هګۍ نه را بهر شه په قفس کې مه اوسېږه
له دې ټيټې هوا پورته له طيران سره اشنا شه
د زمان مکان په قيد کې اوسېدنه اسارت دی
محدود مه اوسه هر ګوره لا مکان سره اشنا شه
د بندي فکر خاونده د وهمونو نظر بنده
که ذهني آزادي غواړې له عرفان سره اشنا شه
که د ځان په شان انسان ته ودربدلی يې سر کوزی
ځان دې نه دی پېژندلی، له خپل ځان سره اشنا شه
چې د جاه و جلال بت ته په سجده باندې نسکور يې
بې ايمانه راته ښکاري له ايمان سره اشنا شه
(۱۵)

د استاد په شعرونو کې د فکر د آزادۍ په هکله ډېر شعرونه شته دي او په نثري کلياتو کې هم ډېرې ښې نمونې د داسې ويناوو لري.

د اروابناد استاد ګل پاچا الفت په شعري کلياتو کې د ملي آزادۍ او فکر آزادۍ سربېره د بيان آزادۍ په باب هم شعرونه شته دي، يعنې د محتوا له مخې د بيان آزادي دده په تخليقي (منظومو او منثورو) ليکنو کې ليدل کېږي.

د الفت صاحب په شعرونو کې د بيان د آزادۍ په اړه ډېرې نمونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته، چې د بېلګې په ډول (شعري کليات، ص ۳۱۰) نه د (زندان) تر سرليک لاندې د بيان د آزادۍ يو ښه نمونه ده او وايي:

لاړم دارالمجــــانين تـــــــه
هلتـــــه و ثـــــو لېـــــوني
ډېـــــر بـــــې قيـــــده غرېـــــدل
ژبـــــې نـــــه وې پـــــه فرمـــــان
آزادي وه د بيـــــــــــــان

پـــــه خبـــــرو بنـــــديز نـــــه و
نـــــه و ډار د ثـــــارنوال
د خطـــــر احســـــاس هـــــيڅ نـــــه و
بـــــې پـــــروا و ناطقـــــان
نـــــا خبـــــر لـــــه ايـــــن و آن

کېـــــدې رنـــــګ پـــــه رنـــــګ خبـــــرې
بـــــې ادابـــــو بـــــې ترتيبـــــه
د هـــــر چـــــا کـــــلام مصـــــوون و
لکـــــه زوی د پارلمـــــان
لـــــه قانونـــــه پـــــه امـــــان

دروازې کـــــه وې تړلـــــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنځیر پېچ و لېوان
په نامه شفاخانه وه
هیچا نه باله زندان
بدل شوی و عنوان

له هغه ځایه چې لاړم
د محبس تورو کوټو ته
هوښیاران لا په عذاب و
تري نه ښه و لېونیان
دا د عقل دښمنان

مګر ژبه بندي نه وه
وینا وه ډېره آزاده
لوخ اوبو نه وېرېږي
نه له بند څخه بندیان
نه له اوره پتنګان

چې راووتم له بنده
تګ راتګ هر لور آزاد و
هر څوک و پخپله خوښه
غلامۍ ته ور روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يـــــوه بـــــل بنـــــده ګـــــان

آزادي د فکـــــــــــر نـــــــــــه وه
ژبــــــــې بنـــــــدې وې لـــــــه ډاره
پـــــه احتيـــاط احتيـــاط مجلـــس کـــې
غږېـــــــدل بـــــــه وزيـــــــران
وايـــــــه ! چېرتـــــــه و زنـــــــدان
پـــــه کـــوم ځـــــای کـــــې و بنـــــديان
(۱۲)

استاد الفت د شعر ويلو او ادبي ټوټو ليکنو هنر دا دی، چې ډېره وړه موضوع په نوي، ښکلي او هنري انداز کې بيانوي.

د ويښو زلميانو د غورځنګ په اهدافو کې د بيـان آزادي يـوه مهمـه خبره وه، استاد او ملګرو يې د بيان، فکر او ملي آزادۍ غوښتونکي وو.

د استاد د يو شعر څو بيتونه دا سې دي:

نور خلک تـرې منکـر دي يـو پـه مـا بانـدې قيـامـت دی
ترڅـــــو بـــــه زه يـــــوازې قيامتونـــــه قبلـــــوم
يــــوه ژبــــه را پرېــــږده چــــې کــــوم درتــــه عرضــــونه
پــــه لاس پــــه پښــــو پــــه غــــاړه ځنځيرونــــه قبلــــوم

(۱۷)

استاد آزادۍ ته له هرڅه ډېر ارزښت ورکوي او پر آزادۍ مين دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(نثري کلیاتو ۳۲۰ مخ ) کې وایي: (هو ؛ هرڅه او هرڅوک چې د بل د لاس لاندې وي، هغه د همدغسې ورځې لپاره روزل کېږي، وګوره بزګر خپل غوایي ښه ساتي، په سره غرمه کې ورته وابښه کوي، اوبه ورکوي، چې بیا پرې جغ کېږدي او ځمکه پرې واړوي، همدغه شان خپل کښت وخت پر وخت پنه کوي، له غویو او پسو یې ساتي، چې له ځمکې هسک او ژر وربېل شي.

همدارنګه هر قام چې خپل واک نه لري او د بل لاس لاندې ژوند کوي، هغو د نورو د ژوندون لپاره لکه چرګان او غوایي ساتل کېږي او روزل کېږي، نو دوی ته که هر څومره ښه خواړه ورکول کېږي، همغه خواړه دوی د مړینې لپاره غټوي. )

د ژوند آزادي، د ملک آزادي، د انسان آزادي، فکر آزادي، ملي آزادي، بیان آزادي او داسې نورې برخې د محتوا ، منځپانګې او معنا له مخې د استاد (الفت) په تخلیقاتو کې پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګل پاچا الفت په شعرونو کې اروا پوهنيز څرکونه

د استاد ګل پاچا الفت په شعري کلياتو کې داسې شعرونه هم پيدا کېږي، چې د استاد نظريات او ويناوې د ديو پيداګوګ سره پرتله کولا شو.

د پيداګوژي کلمه د پخوانيو يونانيانو اصطلاح ده، چې د پيداګوګس (د ماشوم لارښود) له کلمې څخه يې سرچينه نيولې ده.

استاد الفت په شعرونو کې د ېرې لارښوونې کورنيو (والدينو) او ماشوم ته په کې شته دي، لکه ښوونيز او روزنيز نظرونه، فردي تفاوتونه، د محيط تاثيرات، د اولاد روزنه، د مور پالنه د اولاد لپاره، د مور مينه د اولاد لپاره او داسې نور نظريات او افکار د والدينو او ماشومانو لپاره په کې پيدا کېږي.

دغه د پيداګوژي کلمه د يونانيانو اصطلاح ده، پيداګوګان په هغه دوره کې داسې غلامان و، چې د ماشوم ساتنه يې پر غاړه درلوده، هغوی د اتن د ښار او سېدونکي ماشومان ښوونځي، جمنازيم (لوبغاړي) او نورو ځايونو ته بيول او بېرته يې راوستل.

وروسته روميانو دغه کلمه له يونانيانو څخه واخيسته، رومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیداګوګانو د ماشوم پر ساتنه سربېره د هغوی روزنه هم پر غاړه درلوده، تر رومیانو وروسته د ښوونې او روزنې وظیفه معلمانو ته سپارل شوې او دغه شان د پیداګوژي کلمې ورو ورو بین المللي سويې ته لار وموندله.

ددغې پیداګوژي د علم په عامېدو سره ډېرو خلکو ددې علم مطالعې ته مخه کړه، دا چې دا علم د ښوونې او روزنې په برخه کې ډېر په کاربېږي، نو ډېرو ددې علم مطالعې سره شوق پیدا کړ او دغه پیدا ګوژیکي نظریات او افکار د پښتو ژبې د ډېرو شاعرانو او لیکوالانو په اثارو کې پیدا کېږي، چې د بېلګې په ډول خوشحال خان خټک، عبدالرحمن بابا، عبدالحمید مومند، استاد ګل پاچا الفت او نور داسې کسان ښودلی شو.

د استاد الفت په شعرونو سربېره چې پیداګوژیکي نظریات لري، په تحقیقي آثارو کې هم ځینې داسې نظریات لري، چې پیداګوګانو هم دغه فکر او نظریات درلودل.

د استاد الفت د ادب تیورۍ په برخه کې لومړنی اثر ادبي بحثونه دي، چې استاد په کې د شعر د ښکلا په باب وایي: (تاسې له شعر او شاعر نه علمي حقایق مه غواړئ، د شعر هدف حقیقت نه دی، جمال دی.) (۱۸)

کاندید اکاډمېسین محمد صدیق روهي، ادبي څېړنې (ص ۱۱۳)، کې د ښکلا پېژندنې په باب د نامتو پیداګوګ (کانټ) نظریات او افکار داسې راوړي: (انسان په غریزي توګه له ښکلا سره مینه لري، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا د رنګ، اواز او حرکت په توګه په مختلفو هنرونو کې ځان څرګندوي او ښکلا د ټولو هنرونو ګډه خصوصیت دی. (کانټ) ورپسې وايي، چې ښکلا او ګټه بېلا بېل شیان دي، دا شرط نه ده، چې ښکلي شیان دې هرو مرو ګټور وي، د مثال په توګه د کرم ګل د ګلاب د ګل نه ګټور دی، ځکه چې خوړل کېږي، خو هیڅکله شاعر تر اوسه ښايي په دې نه وي بریالی شوی، چې د کرم ګل وستايي، یا مثلاً د یوې ښکلې ښځې سره څوک په دې خاطر واده نه کوي، چې له مېړه سره به د پټې په کرلو او رېبلو کې د بدرنګه ښځې په نسبت زیاته مرسته کوي، په دې ترتیب (کانټ) داسې فکر کوي، چې ښکلا ځانته مستقل ارزښت لري. )

نو کله چې استاد ګل پاچا الفت د شعر د ښکلا په باب وايي: تاسې له شعر او شاعر نه علمي حقایق مه غواړئ، د شعر هدف حقیقت نه دی، جمال دی.

په حقیقت کې خپله خبره د (کانټ) د ایستیتیکي پر تیوري باندې بنا کوي، دا به هم ښايي درسته وي، چې شاعران او هنرمندان حقیقت نه څرګندوي، بلکې هغوی د واقعیت تقلید کوي. (۱۹)

د ښکلا په باب د پیداګوک (کانت) نظر او فکر استاد ګل پاچا الفت هم لري او تاییدوي.

د استاد الفت په شعري کلیاتو کې هم پیداګوژیکي نظریات شته دي، چې څو بېلګې یې دا دي:

**ښوونه او روزنه**: د محتوا او معنا له مخې د استاد ګل پاچا الفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شعرونو کې ښوونېز او روزنيز نظرونه او ښوونې او روزنې ته د انسانانو د ارتيا په باب ډېرې وېناوې شته دي.

ښوونې او روزنې ته ارتيا ډېره ليدل کېږي، د قرآن کريم د آيتونو پر اساس الله تعالی انسان لومړی ځل ناپوه موجود پيدا کړ او وروسته يې ورته د اسې شيان ور زده کړل، چې د همدغو زده کړو له کبله انسان د ملايکو په نسبت لوړتيا وموندله او ملايکو حضرت آدم عليه السلام ته سجده وکړه او دغه د زده کړې خوی د انسان په اولاد کې له يوه نسل نه بل نسل ته په ميراث پاته شو.

[علم الانسان ما لم يعلم] (العلق/۵)

ژباړه: الله تعالی انسان ته هغه څه ور زده کړل، چې پرې نه پوهېده.

[طلب العلم فريضة على كل مسلم](حديث شريف)

ژباړه: د علم حاصلول په هر مسلمان (نر او ښځه) فرض دی.

هم د مذهبي او هم د عقلي او تجربوي دوه نظريو له امله روښانه ده، چې نسل تل تر پيدا ايښت وروسته دې لپاره چې د چاپېريال د ګټورو او خطرناکو عواملو د ټولګې ترمنځ لار ورکه نه کړي، ښوونې او روزنې ته ډېره ارتيا ليدل کېږي، استاد الفت د قرآن او حديثونه باخبر وه، د عصري علومو مطالعه يې درلوده او د خپل تجربوي ژوند له امله د عوامو خلکو د نېکبختۍ او خوشبختۍ له امله د ښوونې او روزنې په باب ډېر نظريات درلودل او له عوامو نه يې د ښوونې او روزنې غوښتنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونه او روزنه دوه بېلا بېلې کلمې دي، چې له بېلا بېلو مفاهيمو سره د دوه جلا کلمو مفهوم اخيستلی شي، خو له ليکلو څخه يې چې په مترادف ډول راځي، داسې څرګندېږي، چې يوه معنا لري، خو په اصل کې ښوونه او روزنه يو له بله توپير لري او دوه جلا جلا مفاهيم لري.

د انسان ټول کارونه، کړنې او سلوکونه، چې د (رعايت، عادت او اطاعت) تر عنوان لاندې سرته رسېږي او يا څرګندېږي، د تربيت (روزنې) له ډول څخه شمېرل کېږي، يا د روزنې په نوم يادېږي.(۲۰)

هغه مفاهيم چې نتيجې يې د انسان د ذهني او رواني حرکي کړو وړو په بڼه څرګندېږي، د تعليم (ښوونې) له مفهوم څخه شمېرل کېږي، يا د ښوونې په نوم يادېږي.

د استاد الفت په شعري کلياتو کې ښوونيز او روزنيز نظرونه او ښوونې او روزنې ته د عوامو تشويقولو او هڅولو بېلګې شته دي، چې د ښوونې او روزنې په هکله به د دې له شعرونو ځينې بېلګې راوړم:

فضيلت د انسان علم و عمل دی
که په سر يې پټکی شال او که ململ دی
د هر چا معنی ته ګوره نه لباس ته
ما د ښه لباس خاوند وليد مهمل دی
په تورتم کې دې هغه سړی وي وړاندې
چې يې لاس کې د عرفان ښايسته مشعل دی

(۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد ګل پاچا الفت شعرونه ډېر ښوونيز مسايل لري او خلک يې د تعليم، پوهې، علم او تحصيل لپاره تشويق کړي دي (د معارف ترانه) تر عنوان لاندې يو نظم دی، چې څو بيتونه يې داسې دي:

د جهل دوره تېره شوه دا عصر د عرفان دی

بې علمه ژوندون ګران دی

په حق پسې روان يو

د علم پتنګان يو

د جهل دښمنان يو

لښکر د معارف يو لوړ زموږ نام و نشان دی

بې علمه ژوندون ګران دی(۲۲)

د استاد پورتنۍ دوه بېلګې د ښوونيزو شعرونو ښې نمونې دي او کلياتو کې داسې نمونې په لسهاوو پيدا کېږي.

د الفت صاحب په شعرونو کې روزنيز نظريات هم پيدا کېږي، چې لاندې څو مثالونه د نمونې په ډول راوړم:

ښه سړی چې له بدانو سره مل شي
دده فکر د هغوی فکر کې حل شي
همدغه مسخ کېدل دي په معنی کې
چې يې خوی د کوم حيوان په خوی بدل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۳)

❀❀❀

افتخـار پـه مـال او عـار لـه فقـره نـه کـا
د کمـال خاونـد پـه هـر صـورت افضـل دی
همېشـه پـه ښـه سـيرت سـړی ښـه ښـکاري
پـه صـورت بانـدې کـه زېـړ او يـا شـډل دی

(۲۴)

د استاد الفت پورته راغلي شعرونو کې روزنيزو موضوعاتو ته نغوته په کې شوې ده.

د انسان په داخلي جوړښت (خوی، عادات، اخلاق، سرېتوب، انسانيت، جذبات، احساسات، عاطفه او داسې نور) باندې د ښوونې او روزنې اغېزې وي.

ښوونه او روزنه يو له بله لازم او ملزوم دي، خو ډېر عالمان، پوهان او تحصيل کوونکي مې وليدل، چې ښوونيزه برخه يې پياوړې ده، خو روزنيزه برخه يې ضعيفه ده، نن مو د ټولنې ډېر خلک ښوونه لري، خو روزنه يې کمزورې ده، چې زما په پوهه له ښوونې روزنه ډېره مهمه ده.

استاد الفت پخپلو شعرونو کې د ښوونې او روزنې په حاصلولو ټينګار کړې دي.

**فردي توپيرونه**: د استاد الفت په شعرونو کې د محتوا له مخې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(فردي تفاوتونو ) تر مفهوم لاندې شعرونه هم شته دي.

په اروا پوهنې کې (فردي تفاوتونه ) د ځانګړي سرليک لاندې توضيح او تشريح کېږي، چې لوی لوی بحثونه پرې شوي دي، چې زه د موضوع اړوند يې په لنډ ډول وړاندې کوم.

د نړۍ د ټولو انسانانو داخلي جوړښت (مينه، محبت، احساسات، جذبات، تخيلات، شخصيت، سړيتوب، اخلاق او نور ) او خارجي جوړښت (قد ، قواره، د پوستکي رنګ، سترګې، پوزه، غوږونه او داسې نور ) يو له بله سره توپير لري.

په نړۍ کې هيڅ يو داسې انسان به نه وي، چې له بل انسان سره په داخلي او خارجي جوړښت کې سره يو شان وي.

د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې داسې بېلګې شته دي، چې د فردي تفاوتونو مفهوم ارايه کوي.

(ډاکتر يوسف کريمي، روانشناسي اجتماعي ) کې د فردي تفاوتونو په باب داسې وايي:

ژباړه: (د ځمکې پرمخ د نړۍ ټول مخلوقات، ژوندي، غير ژوندي که هغه حيوانات وي او که نباتات وي، الله تعالی په يو ټاکلي اندازه او ښکلا سره پيدا کړي دي، د وراثت او محيط تاثيرات دي، چې د انسانانو داخلي او خارجي جوړښت يو له بله سره توپير لري، د بېلګې په ډول د قد لوړوالی، وزن او ذکاوت د توپيرونو له جملې څخه ګڼل کېږي. ) (۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد الفت شعري کلیات، ۳۸۵ مخ کې د (محیط او انسان) تر سرلیک لاندې یو ډېر په زړه پورې مثال د فردي تفاوتونو د مفهوم په باب ویلی دی او وایي:

په هر څه کې دي عیان تفاوتونه
یو شان نه وي د څېرې او لوخې اور
انسانانو کې شته څومره ډېر فرقونه
نه دي یو راز او سپېدونکي د یو کور
د ګاندي کار له ټاګوره پوره نه دی
ګاندي جي هم نه شي کړی کار د ټاګور
باز نه مه غواړه نغمه د بلبلانو
مه کوه په توره لو، کړه یې په لور
د چا لاس توري ته جوړ د چا هنر ته
د هر لاس د ګوتو کار نه دی انځور
انساني قوه خو پوهه او تمیز دی
حیواني قوت دی بې تمیزه زور

(۳۲)

استاد په پورته شعر کې وایي: په انسانانو کې ډېر توپیرونه شته دي، د یو کور او سپېدونکي به هم یو شان نه وي، ګاندي د ټاګور کار نه شي کولای او ټاګور د ګاندي کار نه شي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد یو بل شعر دی او داسې وايي:

یـــوه بـــاغ کـــې وي ولاړې ډېـــرې ونـــې
هـــره پانـــه یـــې لایقـــه د ســـتاینې
ځینـــې جګـــې ځینـــې ټیټـــې کـــوز و پـــاس وي
لکـــه ګـــوتې د یـــوه وجـــود د لاس وي
چـــا مېـــوه لرلـــه چـــا ښایســـته ګلونـــه
د چـــا ســـیوری و ډېـــر ښـــه د چـــا قدونـــه
چینـــار لـــوی و شـــفتالو لکـــه ماشـــوم و
د منهـــې او نـــاک تـــوپیر لـــه ورا معلـــوم و
لـــه یـــوه ســـره لـــویي وه نـــور څـــه نـــه و
بـــل ســـره رنګونـــه ښـــه خوندونـــه ښـــه و
د مرغـــانو نغمـــې وې بـــه کـــې څـــو رازه
هـــر مرغـــه مـــو پېژانـــده لـــه خپـــل آوازه
رنګارنـــګ ګلونـــه و یـــوه چمـــن کـــې
لکـــه وي چـــې ولســـونه پـــه وطـــن کـــې
دوه ســـکه ورونـــه لـــري بېـــل بېـــل نومونـــه
بېـــل رنګونـــه بېـــل غړونـــه بېـــل خویونـــه
مګـــر دواړه او ســـېدونکي د یـــو کـــور دي
د یوې سترګې په کور کې سپین او تور دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد د پورته شعر په ویلو سره د فردي تفاوتونو مفهوم د هر لوستونکي ذهن ته ورځي، خو په دې شرط، چې فردي تفاوتونه وپېژني، د استاد د یوه بل شعر نمونه ده:

قامونــه دي بېــل بېــل فصــلونه د خلقــت د کتــاب
ده هــره نوعــه او هــر جــنس لکــه یــو فصــل او بــاب
پــه هــر تصـنیف او هـر تـالیف کـې وي فصـول او ابـواب
ددې لپــــاره پیــــدا شــــوي دي فرقــــې او احــــزاب
خدایــه ! ســتا صــنع ســتا ســنت پــه دغــه شــان وینمــه
چــې څــوک ترکــان او څــوک عــرب او څــوک افغــان وینمــه

(۲۸)

د الفت صاحب له ټولو لوړو راغلو بېلګو څخه په څرګند ډول د فردي تفاوتونو نظریات او افکار ښکاره دي.

**د محیط تاثیرات**: په اروا پوهنې کې د محیط پر تاثیراتو ډېر بحث شته دی او د محیط تاثیرات د انسانانو پر ژوند په مستقیم او غیر مستقیم ډول تاثیرات درلودی شي.

د انسانانو پر داخلي جوړښت د محیط تاثیرات ډېرې اغېزې لري، چې استاد الفت دې مسایلو ته متوجه شوی او شعري کلیات یې د محتوا، منځپانګې او معنا له مخې داسې شعرونه هم لري، چې د محیط د تاثیراتو مفهوم څرګندوي.

(ادبي مرغلرې، ص ۳۱۲) کې استاد الفت (د محیط تاثیر) تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنوان لاندې داسې وايي:

سوځوي مو اوبه هم چې په جوش راشي
اوبه اور شي که محيط يې وي سور اور
په اوار بستر کې سيند درومي ارامه
خو په چړکې يې بيا ګوره شر و شور
په هر څه کې د محيط تاثير ته ګوره
وي بې زهرو چې اوبو کې وي منګور
لوګی اور نه دی پيدا خو څوک نه سوځي
د محيط اغېزه کله لري مور
له يوه پښته رڼا او لوګي دواړه
د يوه مخ منور او د بل تور

**(۲۹)**

د محيط تاثيرات له انسانانو سربېره پر حيواناتو، نباتاتو او جماداتو هم خپلې اغېزې درلودی شي، چې مثالونه يې زښت زيات دي.

د استاد په شعرونو کې د پورته راغلي شعر په شان نورې بېلګې هم پيدا کېږي، د شعر يوه بله نمونه يې داسې ده:

محيط چا نه چنګېز جوړ چا نه بودا کړ
د محيط مخلوق هم فخر هم پېغور
کله کله څوک پيدا شي په محيط کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـې محـیط ورپسـې ځـي کـه ځـي هـر لـور

(۳۰)

اسـتاد وایـي: د محـیط تـاثیرات دي، چـې لـه ځینـو ګناهګـاران جوړوي او له چا مسیحا جوړوي، لـه چا چنګیز جوړوي او لـه چا بـودا جوړوي.

**والدینو پالنه او مینـه د اولاد لپـاره**: پـه اروا پـوهنې کې د والـدینو مینه او محبت، تربیـه، ښـه اخلاق او داسې نـورو ښودنه اولادونو تـه د دوی وظیفه ده او د استاد الفت په شعرونو کې د محتـوا لـه مخې داسې شعرونه هم پیدا کېږي، چې والدین باید له خپلو اولادونو سره ډېره مینه وکړي او ښه پالنه یې وکړي.

د والدینو له ډېرو مهمو وظایفو او مسوولیتونو څخه یـو هـم د ښـه او نېک اولاد روزنه ده.

د پلار و مور په حیث غواړو، چې اولاد مـو ذکـي او باهوشـه وي، د هر علم په برخه کې با استعداده، لایق او د کـار و بـار پـه برخـه کې موفق اولادونه هم غواړو.

په جسمي او فزیکي لحاظ هم غواړو، چې اولادونه مو ښایسـته او ښـکلي وي، کـه څـه هـم د دغـو امتیـازونو نشـتوالی زمـوږ اولادونـه نـه بېکاره کوي او لـه انسـانیت څخه یې څه نـه کموي، یعنـې کـه د هـوښ، ذوق، هنر (کسب او کمـال) او ښایسـت نـه لـرل مـو اولادونـه لـه انسـانیت څخه نه باسي، خو بد اخلاقـه او غیـر اخلاقـي روزنـه د هغـوی انسـانیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کموي او د هغوی شخصیت داغمن کوي. (۳۱)

اولادونه د والدینو مینې او محبت ته ډېره اړتیا لري او دا د اولادونو حق دی، چې مور و پلار باید ورسره مینه وکړي، د استاد په شعري کلیاتو کې د اولادونو پالنه او له اولادونو سره د مینې په باب شعرونه شته دي، چې د بېلګې په ډول لاندې مثالونه راوړم:

څو چې ځمکه، اسمان او دنیا شته
د مور زړه کې د مینې رڼا شته
که هیچا سره هیڅ ځای کې نه وي
مور سره محبت بې ریا شته
د مور مینه د مینو مور بوله
که دې مینه په خور یا لالا شته
د لیلی محبت که هر ګوره
د مور مینه د مینې ترشا شته
ټول عالم یې که بد ګڼي موري
په اولاد پېرزوینه د تا شته
ستا په مینه کې نقص نه پېښېږي
تا سره سرمایه د بقا شته
تاته وي لکه تور د دوه سترګو
که دې غېږ کې اولاد نابینا شته
ژوندون تا را ښیلی دی موري
له ژوندونه نور څه شی اعلی شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــــا اول دي و تاتـــــه ژړلــــــي
بـــل ځـــاى كلـــه د چـــا د ژړا شـــته
جنـــت ســـتا د قـــدم لانـــدې دى مـــورې
تـــر دې لـــوړ مقـــام كلـــه د چـــا شـــته
كـــه زمـــا پـــه ســـر وي دا ســـتا ســـيورى
نـــه حاجـــت د طـــوبى يـــا همـــا شـــته

په پورته راغلي شعر كې د مور مينه، محبت او مرحمت پـه هنـري ژبه بيان شوى دى او د استاد الفت په شعري كليـاتو كې داسې نـورې بېلګې هم شته دي.

د اولادونو د روزنې په باب وايي:

د ځـــوكړي درد ســـره يـــې د زوى زبـــرى ملګـــرى
يـا درنـګ سـاعت تـه ويـر دى يـا ډكـه خولـه خنـدا ده
پـه غېـږ كـې يـې ماشـوم خـوښ هـم پـلار د ماشـومانو
اولاد تـــــه مربــــــي ده پلــــرو تـــــه مربــــا ده

(۳۲)

د اولادونو د پالنې او لارښوونې په برخه كې والدين (مـور و پـلار) ډېر مسوولیتونه لـري، چې د مـور سـالمه پالنـه او روزنـه بيـا د اولاد پـه شخصيت جوړولو لا مهم دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د استاد الفت په کلیاتو کې د فلسفي شعرونو څرکونه

د استاد شعرونه فلسفي شعرونه هم لري، (غني خان فلسفي شاعر) اثر کې د فلسفې د پېژندنې په باب د (فلسفې پېژندنې) تر سرلیک لاندې اوږد او پر ځای مفصل بحث شته دی او وایې: (فلسفه د هغه اصولو پوهنه ده، چې د هستیو ذاتي پېژندنې په غرض انسان ته ښوونه او د شیانو د حقایقو او د هغو د وجود له علتو څخه بحث کوي او د فکر او هستیو له اړیکو څخه هم غږېږي، چې د هغو د پېژندنې له اغېزې د انسان لاره د عالي هدف یا پوهنې لپاره پرانیستل کېږي، ډېر ځله داسې پېښېږي، چې کله انسان له ورځنیو چارو وزګار یا په یوه ګوشه کې یوازې شي، نو خپل ځان او چاپېریال ته وګوري، اسمانونه، ځمکې، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، سیندونه او بېلا بېلو ځناورو ته ځیر شي او ډول ډول پوښتنې ورته پیدا شي، لکه زه څوک او څه یم؟ ولې یم؟ له کوم ځای څخه راغلی یم؟ ولې راغلی یم؟ د څه شي لپاره موجود یم؟ چېرې ځم؟ ما خپل ځان خپله نه دی خلق کړی، هغه څوک دی، چې خلق کړی یې یم؟ ایا خپل خالق پېژندلی شم؟ ځمکه، اوبه او ټول هغه موجودات چې وینم یې ژوندي یا غیر ژوندي، اسمانونه، ستوري، کهکشانونه، څرنګه پیدا، ترتیب او تنظیم شول؟

جسم، زمان، مکان، رڼا، تیاره، جاذبه، حرکت، سکون، هستي او نېستي څه شی دی او د نورو موجوداتو په کمیت او کیفیت کې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغېزې لري؟ او دا سې نورې بې شمېره پوښتنې، چې انسان د خپل پيدا ايښت له پيله تر ننه ورسره مخامخ دی او هر چا د خپلې شعوري وړتيا په اندازه يا يو ډول ځواب ورته موندلی او يا يې د ځواب موندلو ارمان له ځان سره خاورو ته وړی دی. ) (۳۳)

په حقيقت کې فلسفه (ولې؟) ته په ځواب موندلو پسې لالهانده دی، په دې توګه ويلی شو، چې د فلسفې په مرسته (ولې؟) ته ځواب لټول کېږي او هر هغه انسان چې په ويښه او هوښياري کې دا ډول پوښتنې ورته پيدا کېږي، په يو ټاکلي پړاو کې فلسفي دی او دا هڅه يې يوه فلسفي بوختيا ګڼل کېږي.

هر انسان د زړه له کومې غواړي، په هغه څه وپوهېږي، چې له ده نه پټ دي، د رازونو د سپړلو معنا په حقيقت کې پوهېدل دي، په تېره بيا د ژوندانه او نړۍ په اړه په حقيقت پوهېدل هر چاته په زړه پورې دی، ځکه چې بر خليک ورسره تړلی دی او هر څوک غواړي، چې په هر ځای کې ښه ژوند وکړي او ښه برخليک ولري، له دې نه ښکاري، چې فلسفه کوم ځانګړی امتياز نه دی، چې يوازې ارسطو، افلاطون، سقراط او کانت په برخه رسېدلی وي، بلکې ټول انسانان ځانګړي فلسفي افکار او نظريات لري او هر څوک کولی شي، چې د (ولې؟) ځواب ولټوي او په اړه يې فکر وکړي. د استاد ګل پاچا الفت په ځينو شعرونو کې فلسفي نظريات او افکار ليدل کېږي، چې د سوال په ډول د ځواب پسې ګرځي او د (ولې؟) يادونه يې پخپلو شعرونو کې کړې ده.

استاد ګل پاچا الفت ته فلسفي شاعر نه شو ويلی، خو د فلسفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعرونو څرکونه يې په شعرونو کې ليدل کېږي؛ لکه:

عقــل څــه دی، منطــق څــه دی، حکمــت څــه دی؟
غولـــــول د يـــــوه بـــــل پـــــه هغـــــه دا
کلــه خــوښ کلــه غمجــن کلــه حيــران شــم
دا دنيـــــا ده ګـــــډه وډه تماشـــــا
پـــه حرامـــو نـــاروا ســـړي تـــه ورشـــي
(څـــه لـــولۍ او بـــې حيـــا ده دا دنيـــا )
(۳۴)

استاد په پورته څو بيتونو کې د (عقل، منطق او حکمت) پوښتنه کړې ده او بېرته يې ورته ځواب لټولی او ورکړی دی، چې فلسفي رنګ لري، يو بل ځای ليکي:

نـــاوې جـــوړه شـــوه خـــو چاتـــه؟
يـــو ړانـــده تـــه نابينـــا تـــه
چـــې يـــې نـــه ليـــده جمـــال
بـــې ديـــداره د وصـــال
چـــا ويـــل د نـــاوې کـــور کـــې
فکـــر وکـــړئ څـــه کـــوئ؟
نـــاوې چاتـــه جـــوړوئ؟
د ســـينګار معنـــی بـــه څـــه وي؟
چـــې کاتـــه ورتـــه هـــيڅ نـــه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــــه کـــــوئ خوشـــــې خــــواري
د ړنــــــدو ســـــــترګو لپـــــاره
(۳۵)

د استاد الفت فلسفه ډېر ځله د انسان ټولنيزې اړيکې تر مطالعې لاندې نيسي، معنا دا چې دی د انسان اړيکه له انسان سره څېړي، ځکه له همدې اړيکې څخه ټولنيزې اړيکې رامنځته کېږي، موږ څوک يو؟ ولې ژوند کوو او په ټولنه کې څه ونډه او انتظار لرو؟

استاد الفت د يو سترګور ليکوال په توګه او د لومړي ځل لپاره زموږ اجتماعي اخلاق تر څېړنې لاندې نيسي، انتقاد کوي، طنز وايي او ښه خو يې دا چې د حل لاره وړاندې کوي.

اسـتاد الفـت د ديـن فلسـفه، د انسـان د اجتمـاعي ژونـد پـه ګټـه تفسيروي، مـثلا د هغـه پـه نظر پـر مسـافرو ځکـه روژه نـه ده فـرض، چې حرکت کوي او هرڅوک چې ولاړ او ساکن وي، نو د خوراک، څښاک حق نه لري، استاد الفت ډېر ځله موږ حرکت، کار او تلاش ته هڅوي، استاد هر کله چې لـه طبيعت سره زمـوږ پـر اړيکو غږېږي هـم، مـوږ تـه پېغـور راکوي، چې که موږ کارونه وکړو، نو طبيعت هم زموږ دښمن کېدای شي، د هغه په ژبه زموږ په هېواد کې سيند ورانوونکی، ظالم او خونړی دی، خو کله چې له هېواده ووځي، هلته د ودانۍ او سمسورتيا ښه او وسيله ګرځي، يعنې دا چې موږ طبيعت نه شو رام کولی، د حرکت، کار او کوښښ د نشتوالي له امله طبيعت زموږ په مقابل کې درېږي.

استاد الفت د انسان د هستۍ پـه هکلـه فکـر کوي او د خوشبينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفکرينو په توګه انسان د ښته هڅوي، چې له خپل ژوند څخه خوند او ګټه واخلي.

استاد الفت د ښته متوجه و، چې په افغانانو کې باید د فکر کولو تمرین ته لاره اواره کړي، دا خلک اړتیا لري فکر وکړي، د خپل ځان، چاپېریال، د انسان او ټولنیزو اخلاقو په هکله سوچ وکړي، چې دې ته متوجه شي، چې باید نیګړتیاوې اصلاح او ښېګڼې لا ډېرې کړي، هوکې، فکر کول د فلسفې بنسټ جوړوي. (۳۲)

**اضدادو فلسفه**: د فلسفې د یوې څانګې په ډول د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې د اضدادو فلسفې په هکله شعرونه هم شته دي.

ټوله نړۍ له ضدینو جوړه ده، که د انسان د زړه خوښه وي او که نه وي، له دې اضدادو سره به وخت او ژوند تېروي.

د غني خان په شعرونو کې هم د ژوند او مرګ په هکله فلسفي شعرونه شته دي، چې د اضدادو د فلسفې ډېرې ښې نمونې دي.

استاد ګل پاچا الفت پخپل (شعري کلیات، ص۱۰۴) کې د (آغاز او انجام) تر سرلیک لاندې داسې وایي.

لـــه اســـمانه څـــاڅکي راغلـــه د بـــاران
پـرې را شـنه شـوه سـپین و سـره او زېـړ ګـلان
یــو څــو ورځــې پــس یــې بــاد ویــوړلې پــاڼې
خپــل آغــاز آنجــام هــیڅ نــه شــو ورعیــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه زړګونــو کلــو ګــورو چــې ژونــدون شــته
حرکــت شــته لو بــدل شــته مخکــې يــون شــته
لـــه آغـــازه لـــه آنجامـــه خبـــر نـــه يـــو
دو مـــره وايـــو چـــې دورونـــه د ګـــردون شـــته

(۳۷)

د انسان د پيدا ايښت ورځ او د مرګ ورځ الله تعالی ته معلومه ده او په تقدير کې ليکل شوي وي.

هيڅ انسان نه شي کولای، چې د بل انسان د مرګ وخت په دقيقه موده او وخت کې وښايي. (۳۸)

استاد الفت هم داسې نظر لري او د پورته راغلي شعر مفهوم دی: له اسمانه بارانونه راورېږي، ددې بارانونو له امله ټول بوټي شنه کېږي او ډول ډول ګلان پيدا کېږي، د څو ورځو وروسته د همدې شنه شوو بوټو او رنګارنګو ګلانو پاڼې د خزان د شمالونو له راتګ سره له منځه ځي، دغه بوټي په دې پوه نه شول، چې څنګه پيدا او فنا شول.

انسانانو هم په زرهاوو کلونو ژوند وکړ، حرکت، کار او هلې ځلې يې وکړې، همدا انسان له خپل پيدا ايښته او مرګه خبر نه دی.

دلته هم د ژوندون او د مرګ په فلسفې په هنري، شعري او فکري انداز بحث شته دی، استاد الفت د ژوند او د مرګ په باب داسې نظر لري، چې د انسان د ژوند نېټه او د مرګ نېټه نامعلومه ده، نو په داسې بې اعتباره ژوند بيا اعتماد په کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد ګل پاچا الفت په نثري کلیاتو ، ۱۸۵ مخ کې د (غم او خوشحالي) تر عنوان لاندې داسې وایي: (ډېر خلک دي، چې یوه ورځ یې ګرانه ښځه مري او دی غمجن کېږي، مګر بله ورځ نوی واده کوي او د خوشحالۍ هغه زوږ غم ببخي هېروي، نو دغه د خوشحالۍ ډولۍ او هغه د غم جنازه یو له بله ډېر ربط لري، که هغه غم دغه کاله ته رانه شي، دغه ښادي هم نه شي راتلی.

د استاد په شعري کلیاتو کې فیوډالي نظام ته اشاره کوي او وایي:

غنا په فقر حکومت کاندي
بدایان لوړوي په نورو باندې
راسره شته دي ډېر عزتونه
په ما سمبږي واړه کارونه
په خزانو مې فخر شاهان کړي
جګړې جنګونه په ما انسان کړي
(۳۹)

استاد الفت د غریبو، بېچاره وو او مسکینانو طرفدار او له مالدارنو سره وران و، ده پخپلو شعرونو کې خانان، پیران او د وخت مشران غندلي دی او د فیوډالي نظام پر ضد یې ډېر شعرونه ویلي دي.

په پورته راغلي شعر کې هم د مالدار او غریب یا د مال او پیسو خاوند او مفلس یادونه شوې ده، چې که فلسفي بحث پرې وکړو، نو د اضدادو فلسفې بحث ترې لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عـدم تشـدد فلسـفه**: د اسـتاد الفـت پـه شـعرونو کې د عـدم تشـدد مفکوره هم شته.

د عدم تشدد د مفکورې او اساس سرلاری او بنسټ ایښودونکی خان عبدالغفار خان (باچا خان) و.

باچا خان داسې یوه ټولنـه او ولـس غوښـته، چې هلتـه ظلم، سـتم، تشـدد ، نفـرت، بـدبیني، کینـه، ګونـدي، تربګنـي، تعـرض، تجـاوز، ناداري او ناداني نه وي او ټوله ټوله محبت، وروري، برابري، پېرزوینه، رواداري او همکاري وي. (۴۰)

د باچا خان د عدم تشدد مفکوره د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې ډېر پیدا کېږي او الفت صاحب هم د (تشدد ) طرفدار نه و.

عدم تشدد له دوو کلمو جوړ دی، چې (عـدم) نشـتوالی، نـابودي، نشت، د وجود او هستۍ مقابل، د نه موجودیت حالت، د ځینو کلمو پـه سـر کې راځي او د هغـو مفهـوم نفی کوي او (تشـدد ) سـختي، زیـاتي، جبر، سخت چلند او په سیاست کې وسله وال پاڅون ته وایي.

عـدم تشـدد کې زور او زیـاتی نـه وي، هـر کـار د مینـې، محبت او انسـانیت پـه فضـا کې بایـد سـرته ورسـېږي، د الفت صـاحب پـه شـعري کلیاتو کې ډېر مثالونه ددې مفکورې شته دي، چې د بېلګې پـه ډول یې یوه نمونه داده:

د سـوټي او د سیاسـت خـو د قدیمـه آشـنایي ده
د سـوټي پـه زور یـې کـړې پـه هـر وخـت کـې آغـایي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لېمو رانښاسي ناتراش سوټي په زوره
وايي سترګو کې ځای ورکړئ دا د سترګو سيلايي ده
چې ډب نه وي ادب نه وي د سوټي د خولې منطق دی
ډبولو راښودلی ډبېدلې دانايي ده
ظالمانو يو وهلي، ټکولي او رټلي
زړه کې وېره، سر کې وېره زموږ برخه ګدايي ده
چې وهي مو راته وايي ګورئ اوس به مو سړي کړي
په وهلو سړي کېږو د زور لښته مو دايي ده
د موسی امسا چينې کړې له وچ کاڼي نه روانې
د دهقان لاس کې يې کړې قلبه سمه په غوايي ده
ګدا ځان پرې دی ساتلی د خروړي سپي له خولې نه
يو ړانده له ره يې کړي ډېره ښه رهنمايي ده
کله شي خلی د سترګو بينا سترګې ړندوي
د رنجو سلايي سترګو ته ورکړې زيبايي ده
چې سوټی سلايي بولي او له چا نه نه شرمېږي
ښه په زور کې را روانه ياره ستا بې حيايي ده

(۴۱)

د استاد له پورته شعر څخه ثرګند ېږي، چې د (تشدد) خلاف او د (عدم تشدد) طرفدار دی، دی په حکومت داری کې هم زور او زياتی نه غواړي او د سولې، مينې او وروري غوښتونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خوشحال قصيدو ته انتقادي کتنه

قصيده د شرقي شاعرۍ يو له مهمو ژانرونو څخه ده، چې له عربي ژبې نه فارسي او له فارسي نه پښتو خپله کړې ده.

د پښتو ژبې پلار خوشحال خان خټک د عروضي دولونو ټول ځيلونه په خپلو اشعارو کې وکارول، چې د قصيدو د تعداد په اړه يې لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي صاحب وايي: د خوشحال خان ټولې قصيدې **۵۲** دي، حبيبي صاحب د خان بابا ځينې قصيدو ته غزل وزمه قصيدې ويلي دي، که چېرې دا روښانه شي، چې د بابا غزل وزمه قصيدې غزلې او که قصيدې دي، د خوشخال د قصايدو په تعداد کې به حتما توپير راځي.

خوشحال پيژندنې، ۱۷۷ مخ کې هم راغلي دي: د ديوان بله غټه برخه د قصيدو ده، د خان ټولې **۵۲** قصيدې په کلياتو کې موجودې دي.

(۴۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشحال کلیات په سریزه کې وايي: د خوشحال ټولې قصیدې **۵۲** دي، ځینو نورو لیکوالانو هم د خان بابا قصیدې **۵۲** ښودلي دي.(**۴۳**)

یوه مشهوره خبره ده، چې په یو وخت کې (ارسطو) د خپل استاد (افلاطون) پر نظریه باندې انتقاد وکړ. چا ورته وویل چې ایا ته د خپل ښوونکي احترام نه کوې، چې پر هغه باندې دې انتقاد وکړ؟ ارسطو یې په ځواب کې وویل: افلاطون راباندې ګران دی، مګر حقیقت له ده څخه زیات راباندې ګران دی.

په منځنیو پیړیو کې ارسطو دومره شهرت ګټلی و، چې اکثرې مناقشې به دده د نظریاتو په وسیله حل کېدې. د رنسانس تر دورې پورې د ارسطو نظریې د کاڼي د کرښې په شان ګڼل کېدې. نامتو انګلیسي فیلسوف برتراندرسل لیکي: د ارسطو په عقیده د ښځو غاښونه د سړو تر غاښونو کم دي که څه هم ده دوه واره واده کړي وه، مګر ده هیڅکله زیار ونه ایسته چې دغه دعوا د خپلو ښځو د غاښونو په ګڼلو سره ثابته کړي.

فرانس بیکن وايي چې یو وخت علما راغونډ شوي وو د اس د غاښونو پر شمېر باندې بحث کاوه. دوی ټول پخواني کتابونه لټ په لټ راواړول چې د اس د غاښونو شمېر ځانته معلوم کړي. ډېرې ورځې غونډې وشوې، علماوو ګومان کاوه چې په کتابونو کې هر شی پیدا کېږي، حتما به په کتابونو کې راغلي وي

بحثونه روان وو او کتابونه تر مطالعې لاندې نیول شوي وو، چې په دې وخت کې یو شاګرد بې حوصلې شو او ویې ویل راځئ د اس خوله پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو او غاښونه یې وشمېرو، علماوو ته ډېر قهر ورغی او ګومان یې کاوه چې د دغه شاګرد اعصاب خراب شوي دي، خو د شاګرد نظر د تایید وړ دی. (۴۴)

له پورتنیو توضیحاتو څخه معلومېږي، چې هر سړی د نظر ورکولو حق لري او حبیبي صاحب هم په پښتو ادب تاریخ کې له نورو خلکو غوښتې ده، چې د تحقیق په برخې کې هلې ځلې وکړي.

حبیبي صاحب او ځینو نورو خوشحال پېژندونکیو د خان بابا ځینې قصیدو ته غزل وزمه قصیدې ویلې دي.

دې قصیدو ته غزلې او که قصیدې ووایو، ښاغلیو پوهانو هم دغه خبره نه ده ښکاره کړې، د دوی په فکر که چېرې د قصیدې منځپانګه، محتوا او ځمکه غنایي وي دې ته یې غزل وزمه قصیدې ویلي دي دا چې ځینو پوهانو د خان بابا قصیدې **۵۲** ښودلي دي، دوی خوله په خوله دغه تعداد دیو نه بل کتاب کې ښودلی دی، خو زما په نظر د خان بابا قصیدې **۵۲** نه زیاتې دي دا چې د قصیدې په پېژندنې کې باید کوم توکي په نظر کې ونیول شي دا ټول ما دقیق وکتل او دې نتیجې ته ورسېدم، چې د بابا قصیدې له **۵۲** زیاتې دي.

هغو پوهانو چې د بابا ځینو قصیدو ته غزل وزمه قصیدې ویلې دي، هغه باید په قصیدو کې وشمېرل شي، ځکه چې بابا د قصیدو برید مات کړ، کومې قصیدې چې د جاهلیت په زمانې کې په ارادي ډول د خرڅون او کره کتنې لپاره لیکل کېدې او یا د فارسي دري ژبې تمهیدیه قصیدې چې په دربارونو کې د مال، دولت، جاه او جلال او د چاپلوسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ویل کېدې او زیاتره قصیدې به د ستاینې او مدحې لپاره وې خو بابا خطابیه قصیدې خپل اوج ته ورسولې او په غیر ارادي او ناشعوري ډول یې د قصیدې په څېر کې اخلاقي، اجتماعي، سیاسي، غنایي، رزمي او نور مسایل راوړه، ما د بابا ټولې قصیدې ولوستې او هر ډول منځپانګې د دې په قصایدو کې شته، نو د پورته دلایلو په نظر کې نیولو سره د بابا د غزل وزمه قصیدو جوړښت، د بیتونو شمېر، قافیې او په ځینو قصیدو کې ردیفونه په دې دلالت کوي چې دا قصیدې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شعر او نظم توپیر او تړاو

د شعر په هکله د پوهانو او عالمانو له خوا بېلابېل تعریفونه شوي دي، د شعر کلمه اصلاً عربي ده، چې د شعور د کلمې څخه مشتق شوې ده، چې معنا یې پوهه او فهم دی.

افلاطون د شعر په هکله ویلي دي (زه د بر ژر و پوهېدم، چې د شاعرانو د کلام تومنه پوهه نه ده، بلکې د دوی ویناوې او شعرونه د طبیعت د ځینو عواطفو، ذوق څخه رامنځته کېږي او وایي: شاعر په خپل اختیار شعر نه وایي او د هغه شعوري هڅه په هغه کې دخل نه لري، بلکې د شعر ښاپېرۍ دي، چې شاعر هرې خواته بیایي او څه چې خوښه یې وي هغه وایي.)

ارسطو شاعري الهام نه بولي، بلکې د انساني کوښښ پایله یې بولي، د افلاطون په وخت کې موذون کلام شعر بلل کېده، خو ارسطو وزن او قافیه د شاعر لپاره اړینه نه بولي او شاعري باید اسانه او ساده وي، چې هرڅوک پرې پوه شي. (۴۵)

نامانوس کلمات باید استعمال نه شي، تر ټولو مهمه داده، چې په شعر کې د تشبیه او استعارې څخه مرسته وغوښتل شي او همدارنګه ارسطو مبالغه، اغراق، غلو او افراطي ویناوې په شعر کې روا بولي، خو په دې شرط چې د هغې کارول په هنر سره وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر هغه موزون کلام دی چې د مخیلاتو څخه مرکب وي او مخیلات هغه خیالي قضایا دي، چې نفس د انبساط او انقباط باعث ګرځي، شعور د طبیعت د جمال تصویر دی او هر هغه شی چې پر زړه تاثیر کوي او په انسان کې تعجب، جوش، جذبه پیدا او تحریک کړي، هغه شعر دی، د پټو حقایقو ظاهري نقش او ښکاره صورت دی.

شعر هغه موزون کلام دی، چې د انسان پر احساساتو او عواطفو کې تحریک پیدا کړي او یا هم شعر هغه ساده وینا ده، چې احساسات او باطني هیجانات ورسره ګډ وي. (۴۲)

د پښتو ژبې لومړنی شاعر امیر کروړ وه، پښتو شعر له همغه پیل نه د ژوند شعر وه او د پښتنو د ژوند ببلابېل اړخونه یې په کې منعکسېدل.

نظم کې د وزن او قافیې په پام کې نیول یو له بنسټیزو شرطو څخه ګڼل کېږي، همدغه شرط دی، چې لارې تنګوي او د مطلب اسانه څرګندولو ته خنډونه جوړوي، خو دا هم کېدلای شي د نظم او شعر ترمنځ هم لکه د نثر او نظم ترمنځ مناسبت ته ورته یو ډول اړیکې په ګوته شي.

لکه پورته مو، چې د شعر په اړوند ببلابېل تعریفونه ولوستل، شعر زموږ د احساساتو، عواطفو، غریزو او ارزښتناکو اړیکو څرګندونه ده او دا خو ټول هغه ټکي دي چې یوازې د تخیل د خزانې په صندوق کې پیدا کېږي او په شعر کې د شعریت پېغلې ته رنګین امیلونه ورپغاړې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شعر کې باید ډېره قوي او درنه معنا ، هنر او ښکلا پرته وي، داسې محتوا چې له لوستلو سره یې لوستونکي په فکرونو کې ډوب شي او له ځانه سره داسې وانګیري چې ګواکې د ده د ژوند له یوې برخې سره اړخ لګوي.

پوهان وایي یو کلام که هرڅومره عالي مفکوره او انکار نه منونکې حقیقت بیان کړي، ډېر ښه وزن او قافیه هم ولري خو که شعریت په کې نه وي، یانې په شعري منطق نه وي ویل شوي او د تخیل عامل یې کمزوری وي نو هغه شعر نه، بلکې نظم دی.

نظم د بډای تخیل په برکت د شعر ترکچې وده کوي او یوازې له دې برکت اخیستلو نه وروسته دغسې نظم ته شعر ویلای شو، اما نه هر نظم ته، شعر کېدای شي منظوم یا ازاد وي، مګر د نظم ښکلا یوازې په منظوم والې کې ده، ځینې څېړونکي خو لا د لوړ تخیل لرونکي نثر هم د شعر په نامه یادوي، د بېلګې په توګه که یو چاته څوک ووایي چې (سړیه ګوره ته خپل د زړه ټولې خبرې ماته بې تشویشه وکړه او زه به کوښښ وکړم چې بل چاته یې ونه وایم) دا یو ساده نثر دی مګر که همدغه شی په دې ډول بیان کړو چې (که ته ماته د خپل زړه ورپرانېزې او د هغه غوټې راته وسپړې نو په دې پوه شه چې زما سینه د رازونو یوه داسې ضد وقچه ده چې اووه قلفه او اووه مهرونه وربانديږلګېدلی دی) دا ځل کولای شو چې نوموړی بیان منثور شعر وبولو.

د الفت صاحب نثري کلیاتو کې ډېر داسې مثالونه شته، چې منثور شعر ورته ویلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(روهــي ، د شــعر پېژنـدنې، ۲۵) وايـي: د يونـان فيلسـوف ارسـطو نـه رانيـولې تـر نـن ورځـې پـورې عـام تصـور دادی چې هر نظم شعر نـه بلـل کېږي، ځکه د شعر اصلي جوهر خيال دی، نو که په نظم کې ذهنـي انځـور او خيال نه وي، د شعر حکم ورباندې نه شي کېداى. د منطق پوهانو پـه نظر، شعرمخيل کلام دی، وزن او قافيه يې لـوازم دی، د دغـې مفکـورې پـر بنسـټ ځينـو شـاعرانو لـه وزن او قـافيې څخـه سـترګې پټـې کـړې او داسې شعرونه يې وويـل: چې ميتـرک (تقريبـاً بيـا عروضـي) وزنونـه او قافيې يې نه درلودل.

ټول (شاعران) شاعران نه دي، ځينې له وزن او قافيې څخه يو اسکليټ تياروي، ځينې بدن انځوروي، ځينې انځور پـه حرکت راولـي او ځينـې همدغـه حرکـت تـه معنـا او مفهـوم وراغونـدي او د همېشـه تـوب ټاپـه ورباندې لګوي.

په دې ترڅ کې د دغو شاعرانو ډلې ته يو مست لېونی شاعر ورګډ ېږي.

هغوی ټول په جذبه راولي، طغيان ته يې لمسوي، د ده خبرې عـادي نـه دي، خوږې دي، خو بې مفهومه غوندې ښکاري.

هر ناظم ته شاعر نه يو ويلای، خو هر شاعر ته د ضرورت پـه وخـت کـې ناظم ويلای شو.

(هاشمي صاحب) وايي: (د نظم اصطلاح معمولاً د شعر مترادفه، يا لـه هغـې سـره پـه يـوه مانـا اسـتعمالېږي، حـال دا چـې تـرمنځ يـې جـوت او ښکاره توپير شته او هغه دا چې: شعر موذونـه او تخيـل لرونکـي وينـا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نظم موزونه قافیه لرونکې وینا ته وایي په دې حساب موږ په خپل پښتو او درې ادب کې ډېرې داسې منظومې لرو چې شعر نه دی او یوازې نظم یې ګڼلی شو، لکه ځینې دیني، طبیعي او تاریخي منظوم اثار چې ناظمانو نظم کړي، خود شعریت یا تخیل څرک په کې نه لیدل کېږي، یوازې وزن او قافیه لري نو په دې اساس ویلای شو چې هره قافیه لرونکې وینا شعر نه شو بللی او لکه چې دمخه مو یادونه وکړه د شعر لپاره شعریت یا تخیل بنسټیز توکی دی. (۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سیدجمال الدین افغان ستاینه

میندې راوړي ډېر زامن ډېر اولادونه
یو یا دوه یې افلاطون او سکندر شي
د خلقت له کارخانې نه کله کله
په جهان پیدا یو بل شاني بشر شي

د منځپانګیز او محتوا ییز جوړښت له مخې د استاد الفت شعري کلیات ډېرې په زړه پورې ستاینې لري، چې د سید جماالدین افغان په ستاینې کې یې دوې تهیدیه ډوله شعرونه ویلي دي.

د استاد الفت د ستاینو مهمه ځانګړنه دا ده، چې د ممدوح یادونه د تملق په ډول نه کوي او د هغه چا ستاینه کوي، چې په حقیقت کې د ستاینې وړ وي.

که چېرې د یو کس مدح او ستاینه د هغه د علم، پوهې، شاعرۍ، لیکوالي، ښو اخلاقو او خدمتونو په نظر کې نیولو سره وشي او هغه په ښه نوم یاد شي، دې ته ستاینه وایي.

پښتو ادب کې د ستاینې او مدحې تحریري او لیکل شوې لاس ته راغلې بېلګه په لرغونې دوره کې د ښکارندوی غوري ستاینه او مدحه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ستاینه د قصیدې په فورم کې ویل شوې ده او په پښتو ادبیاتو کې لومړنۍ ستاینه او دویمه تحریري او لیکل شوې قصیده ده.

ښکارندوی غوري د سلطان غیاث الدین غوري او سلطان شهاب الدین غوري په ستاینه کې خپله قصیده لیکلې ده.

د یوې خبرې یادونه ضروري ده، چې د نړۍ په ادبیاتو او پښتو ادبیاتو کې له تحریري ادبیاتو نه د شفاهي او ولسي ادبیاتو تاریخچه او شالید پخوانی دی، د محتوا او منځپانګې له مخې که موږ هر ډول تحریري او لیکل شوي شعرونه لرو، له دې څخه دمخه د ولسي شعرونو ډېرې داسې بېلګې لرو، چې د امکان تر حده به یې تاریخ پخوانی وي. (۴۸)

پښتو ادب کې ډېرې ستاینې او مدحې د ټپو او لنډیو په شفاهي او ولسي ژانر کې شته، چې ډېر امکان لري، تر ښکارندوی غوري پخوا ویل شوي وي، خو د تحقیق او څېړنې د مېتودولوژي د اساساتو پر بنا باید د څېړنې بحث له لاس ته راغلو هغو موادو ځینې پیل شي، چې لیکوال، د لیکلو وخت او لاس ته راغلې منظومه او منثوره بېلګه څرګنده وي.

د استاد الفت ستاینې دومره په زړه پورې دي، چې د هر ممدوح د ژوند ټول انځور په یوې لنډې ستاینې کې ځای کړې او د سړي زړه نه کېږي، چې د هره ستاینې څو انتخابي بیتونه راوړي، ځکه د ټولې ستاینې په راوړلو هغه ممدوح ډېر ښه پېژندل کېږي.

استاد د نابغه سید جمال الدین افغان ډېره په زړه پورې ستاینه کړې ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په کلیاتو کې یې ساری نه لیدل کېږي او زما په پوهه په لرغونې او دویمې دورې کې د کس (شخص) په ستاینه کې یوله بې جوړې ستاینې ځینې دی، چې څو بیتونه یې دا دي:

بې حسابه څاڅکي توی په بحر و بر شي
له لکونو کروړونو یو ګوهر شي
رنګ په رنګ ګلان پیدا شي غرو رغو کې
په کې یو نیم د لیلی پېکي ته ورشي
مرغلرې د بېرې وځي له دریابه
ځینې ځینې ښکلو پېغلو ته زیور شي

د ستاینې په څو وروستیو بیتونو کې دا سې وایي:

د خلقت له کارخانې نه کله کله
په جهان پیدا یو بل شانې بشر شي
چې رڼا یې په ملکونو کې خپرېږي
ټول عالم لره څرګند لکه لمر شي
د کونړ د لوړو غرونو په لمن کې
نابغه فرزند پیدا د سید صفدر شي
پښتنه مور هسې زوی وا خلي په غېږ کې
چې د دهر او جهان نامي پسر شي
د بېر پوهان ورته سر ټیټ په شاګردۍ کړي
د بېر شاهان یې په تعظیم مخې ته ورشي
همېشه یې قدر کېږي په عالم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چې لوی په علم و فضل او هنر شي
هسې نوم هسې نشان يې شي په برخه
چې لوی فخر د ملت او خپل ټبر شي

استاد ګل پاچا الفت چې د چا ستاينه کړې ده، د هغې په اړه يې پوره معلومات او مطالعه درلوده، دده پورته راغلې ستاينه په دې دلالت کوي، چې دې سيد جمال الدين افغان ډېر ښه پېژنده.

استاد ګل پاچا الفت د سيد جمال الدين افغان په باب يوه بله ستاينه هم لري، چې په کلياتو کې د (پښتون سيده) په نامه داسې راغلې ده:

پښتون سيده، د شرق نامداره
د دين او علم، د کور سرداره
تللی وې چېرې، د څه لپاره
د چا له غمه وې ناقراره
توره تياره وه، مړه اولسونه
راپاڅول تا، ويده قومونه
دنيا رڼا شوه، ستا له تنويره
جهان خبر دی، ستا له تاثيره
حق سر او چت کړ، ستا له تقديره
ستا له تحريره، ستا له ضميره
وښورول تا، غافل فکرونه
څومره خواږه و، ستا بيانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد الفت په علم او ادب مین و او ډېرې ستاینې یې د هغو عالمانو، شاعرانو، لیکوالانو او پېژندل شوو او تلپاتې څېرو او اشخاصو په اړه دي، چې خپل ولس او نړۍ ته یې خدمتونه کړي دي.

د استاد الفت د ستاینو کامیابي په دې کې ده، چې د هر کس د ژوند په نظر کې نیولو سره دده یادونه یې کړې ده او لوستونکی او اورېدونکی دا فکر کوي، چې استاد دده د هر شخص په باب پوره معلومات درلود. رښتیا هم استاد الفت د ډېرې ښې مطالعې څښتن دی.

د استاد الفت ستاینې په پښتو ادب تاریخ کې ښې جوړې او ښې سارې ستاینې دي، دی د ځینو درباري شاعرانو په ډول ستاینې نه دي کړې، د دې ستاینې پرځای او پښتو ژبې کې د ستایلو وړ دي.(۴۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحقیقي اثر د لارښود ځانګړنې

تحقیق او څېړنه یو ستونزمن کار دی، چې څېړونکی او د څېړونکي لارښود باید د کار(تحقیق) حق په ښه ډول ادا کړي.

په یوې ښې څېړنې کې باید اصلي محقق او لارښود ځینې لارښونې په نظر کې ونیسي او ټولنې ته د یوې نوې فرضې د اثبات لپاره کار وکړي. د دوی هلې ځلې باید مثبتې لاسته راوړنې ولري او لارښود استاد باید د یو لړ خصوصیاتو او ځانګړنو خاوند وي، چې څېړنه په موفقانه ډول سر ته ورسیږي.

په یو ښه تحقیق کې د څېړونکي او لارښود په موضوع حاکمیت د دې لامل کیږي، چې یوه ښه او نوې لیکنه خپلې ټولنې ته وړاندې کړي، لارښود استاد باید په خاص ډول لاندې ځانګړنې ولري:

۱: لارښود چې د تحقیق په ترمینالوژي کې ورته guide وایي، باید د ښو اخلاقو څښتن وي، دی باید له څېړونکې سره ښه وضعه وکړي، که چیرې لیکوال ورنه د یوې مسلې پوښتنه کوي، دا باید ورته په ورین تندي او په ډېرو ښو الفاظو ځواب ورکړي، په داسې وخت کې محقق بیا په ډېر جریت سره خپلې ستونزې له لارښود سره شریکولی شي او په داسې مواردو کې لیکوال کولای شي، چې یوه ښه څېړنه وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲: لارښود استاد باید په موضوع حاکمیت ولري. د قاهرې د جامع الازهر استاد دوکتور احمد شبلي د ویناوو مطابق د بریتانیا په پوهنتونو کې د رهنما لپاره شرط دا دی چې په موضوع کې وارد وي او تخصص ولري. د استاد علمي درجو او القابو ته نه کتل کیږي، مګر په مصر او نورو ډېرو هیوادونو کې د رهنمایي لپاره د لوړو رتبو درلودل شرط دی. دا روش یوه ستونزه لري، هغه دا چې کیدای شي د القابو خاوند استاد په موضوع باندې حاکمیت ونه لري او وارد نه وي، مګر یو بې القابو خاوند په موضوع باندې حاکمیت ولري او وارد شخص وي.

په افغانستان کې هم پورته روش د لوړو زده کړو وزارت لخوا په پوهنتونو، اکاډمیو او نورو اکاډمیکو ځایونو کې د یوې لایحې مطابق تطبیقیږي، چې دا کار د تحقیق په برخه کې ځینې ستونزې پیدا کوي او محقق نه شي کولای چې په ښه ډول خپل تیسس، ډیزرټیشن او نورې .... څیړنې سرته ورسوي.

۳: لارښود استاد باید محقق ته د مخامخ لیدلو وخت ورکړي، چې د اړونده ستونزو حل لاره پیدا کړي، د نننیو ساینسي پرمختګونو وسایل کارونه اسان کړي دي، کولای شو، چې خپلې ستونزې د موبایل، انټرنیټ او نورو ... وسایلو په واسطه حل کړو، خو زما په پوهه د لارښود استاد سره د مشوره کولو لپاره د ټولو ښه وسیله دا ده، چې ورسره یو ځای کینو او د خپلې تحقیقي پروژې په اړه مهمې خبرې سره شریکې کړو، دلته هم د لارښود په اخلاقو باید یو لنډ بحث وکړو، هغه دا چې ځینې محقیقن کولای شي، چې د لارښود سره وګوري، خو هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې ستونزې د موبایل او یا د تیلیفون له لارې حلوي، که د دلیل پوښتنه ورنه وشي، هغوی وایي: استاد ډېر غوصه کوي، د مخامخ لیدلو نه زما مشلات د موبایل په واسطه حل کیږي. که چیرې لارښود لیرې وي او د لیدلو کتلو ستونزې موجودې وي، نو بیا چې په هر ډول وي باید خپل مشلات حل کړو.

**۴**: لارښود استاد باید د څیړنې میتودولوژي سره کاملا اشنایي ولري او په خپله یو ښه څیړونکی وي، یو ښه څیړونکي په وارده موضوع کې یو ښه لارښود ثابتیدای شي.

**۵**: که چیرې لارښو په یوې موضوع باندې پوره حاکمیت ولري، خو د څیړنې له میتودولوژي نا خبره وي، بیا هم ښه لارښود نه شي کیدای، ځکه څیړنه د ځان لپاره خاص کالبونه او چوکاټونه لري او د دې کالبونو سره اشنایي دې لپاره ضروري ده.

**۶**:لارښود استاد باید سر تر پایه ټوله څیړنه که هغه مونوګراف، تیسس، ډیزرټیشنونه او نور وي ولولي او ټولې نیمګرتیاوې یې ښکاره او په ګوته کړي او محقق ته یې د سمون لارښونې وکړي، که موږ او تاسو ننني مونوګرافونه، تیسیسونه او یا د ځینو ډیزرټیشنونه وګورو د ګوتو په شمار نه پرته د نورو ټولو لیکنې pest او copy دي او ډېرې څیړنې مو غلطي او کمبودي خو لا پریږده، چې په درجنونو املایي غلطي پکې موجودې وي، که رهنما لیکنه لیدلې وي هیڅکله دا ډول غلطي په لیکنو کې نه پاتیږي. یعنې لارښود باید ټول اثر ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷:لارښود استاد یوائې د مشورې ورکولو حق لري. د مشورې ورکولو په وخت کې باید لارښود خپله بې طرفي وښايي او داسې ونه کړي، چې د محقق کار ته دا متې ونغاړي او اصلي کار ورنه پاتې شي.

۸: لارښود یا رهنما استاد باید د تحقیقي اثر د کار له تکمیله وروسته په اثر ګزارش لیکي، ځینې لارښونکي دلارښوداستاد ګزارش پر ځای د لارښود استادنظر لیکي، کاندید اکاډمیسین پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام د رهنما استاد نظر پرځای د رهنما استادګزارش لیکلي او مستحق څېړونکي سرمحقق زلمي هیوادمل هم لوړنظر تایدوي، چې زما په پوهه کهلارښود د رهنما استاد ګزارش ولیکي ښه به وي.

دا ځکه چې د ( نظر )د کلمې معنایي خوا مثبت او منفي دواړه خواوې افاده کوي او لارښود استاد باید په اثر منفي نظر ورنه کړي او په ګزارش کې بیا د اثرپه اړه د لارښود ښکاره، څرګند او مثبت نظریات وي.( **۵۰** )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تحقيق کې د سرمحقق زلمي هېوادمل مقام

د معاصرې (نوې) څېړنې د ټولو اړينو ځانګړنو او خصوصياتو په نظر کې نيولو سره مستحق څېړونکی سر محقق زلمی هيوادمل د پښتو ژبې په تحقيقاتو کې د سر سړی دی. که دې ته د پښتو ژبې د دريمې دورې د تحقيق پلار ووايو، مبالغه به نه وي.

زما په پوهه د القابو په ورکولو کې بايد له احتياطه کار واخيستل شي، خو زه په زغرده وايم، تر نن ورځې پورې دې د څېړنې په برخه کې د ټولو ليکوالانو او محقيقينو په سر کې ځای لري.

پخواني مشران ليکوالان او محققين مو د قدر وړ دي او په خپلو لږو امکاناتو يې د ځينو لومړنيو څېړنو بيسټ کېښود، خو سر محقق زلمی هيوادمل بيا د پر مختللي ميتود په رڼا کې داسې نوې نوې څېړنې او تحقيقات وکړه چې د خپل وخت نوې او لومړني کارونه دي.

د ساينس او تکنالوژي ننني انکشافات د نويو او پرمختللو څېړنو او تحقيقاتو برکت دی، څېړنه د ساينسي او اجتماعي علومو د ټولو برخو لپاره مهمه ده.

ځينې خلک تحقيق نه تخليقي کارونو ته زيات اهميت ورکوي، خو دوی په اصل او حقيقت کې له څېړنيزو اثارو څخه د هغو اثارو تعبير کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ليکوال د کتاب پرپوخ د ځان لپاره (څېړونکی) ليکلی وی، خو دا کتاب به ژباره او يا راټولونه وي.

ډېر ليکوالان دي د ليکوال، مولف او څېړونکي تر منځ توپير نه شي کولای.

يوه ورځ د ننګرهار د دارالمعلين د يو استاد په کتاب مې وليده، چې ژباړه او څېړنه يې پرې ليکلې وه او د پوهنتون د استادانو لقب (پوهيالی) يې د ځان لپاره ليکلی و. په حقيقت کې دې کتاب ژباړلی و.

رښتيا چې له داسې اثارو نه تخليقي اثار بهتره دي. حقيقت دا دی په يوه ژبه کې ليکوالان او شاعران ډېر وي، خو څېړونکي پکې د ګوتو په شمار وي، معنا دا چې هر څېړونکی د څېړنې د کمال تر څنګه ليکوال هم دی، خو هر ليکوال څېړونکی نه دی.

زما په نظر د څېړنې کار ډېر درووند کار دی او څېړونکی بايد د محترم استاد هيوادمل صاحب په شان ډېره لويه حوصله ولري.

د پوهنتونونو ډېر مشرانو استادان د څېړنې په نامه اثار ليکي، خو د څېړنې ميتودولوژي د اصولو په نظر کې نيولو سره يوازې د څېړنې جولېز جوړښت مراعت کوي او د اثر په محتوا کې يې د څېړنې څرک نه ښکاري، چې مثالونه يې ډېر زيات دي.

د تحقيق په دنيا کې دوه ډوله محقيقين لرو، يو هغه محقيقن او څېړونکي دي، چې په تحقيق کې له دقته کار اخلي، په پښتونخوا کې لوی خوشحال پوه استاد دوست محمد کامل مومند او افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر استاد پوهاند عبدالحی حبیبي، پوهاند صاحب عبدالشکور رشاد او په ژوندیو کې سرمحقق زلمی هیوادمل یادولای شو.

بل ډول هغه محقیقین دی، چې په تحقیق کې له سرعته کار اخلي، چې په پښتونخوا کې همیش خلیل صاحب یادولای شو.

سرمحقق زلمي هیوادمل دمعاصرې نوې څېړنې په برخه کې د قدر وړ کارونه وکړه او د پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام خبره که د دې په څېړنېزو اثارو د ستاینې قصیدې ولیکل شي، هم د دې حق نه ادا کېږي.

د استاد د ادبي خدمتونو او هڅو که هر څومره ستاینه وکړم، کمه به وي او د دې پر ادبي هلو ځلو که د ډاکټريphd تیسیس ولیکل شي، نود دې حق به مو ادا کړی وي.

په منځنیو پیړیو کې ارسطو دومره شهرت ګټلی و، چې اکثرې مناقشې به دده د نظریاتو په وسیله حل کیدې. د رنسانس تر دورې پورې د ارسطو نظریې د کاڼي د کرښې په شان ګڼل کیدې. نامتو انګلیسي فیلسوف برتراندرسل لیکي: د ارسطو په عقیده د ښځو غاښونه د سړو تر غاښونو کم دي که څه هم ده دوه واره واده کړي وه، مګر ده هیڅکله زیار ونه ایسته چې دغه دعوا د خپلو ښځو د غاښونو په ګڼلو سره ثابته کړي.

هیوادمل صاحب په پټو سترګو هر څه نه منې او په تحقیق کې حقیقت ته د رسېدلو لپاره هر ډول ستونزې ګالي او ډېر دقت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد د څېړنې میتودولوژي د تیورۍ اهمیت تر عنوان لاندې د جامع الازهر استاد دوکتور احمد شلبي په حواله په دې مورد مفصلې خبرې کړې دي، چې زه یې لنډیز را اخلم: څېړونکی چې هر څه لولي، هغه باید په خلاصو سترګو ولولي، هغه نظریات او اراوې چې اسلافو وړاندې کړي، هغو ته کاملا تسلیم نه شي، په هغه کې غور وکړي.

زلمي هیوادمل چې د څېړنې میتودولوژي کې د لیکوالانو لپاره کومې لارښوونې کړې دي، اول یې پرځان عملي کړې دي.

د دې د تحقیق د کار طرز او طریقه د منطقي په سطحه د ستایلو وړ دی او د فارسي، اردو، هندي او داسې نورو ژبو د ښه محققینو په قطار کې یې یادولای شو.

څېړنپوهان په دې نظر دي، چې یو ښه محقق باید شکاک وي، هرې نظریې، هرې خبرې او هر سند ته باید د شک په سترګو وګوري، له ښه شکاک څخه یو ښه محقق جوړیدای شي، هیوادمل صاحب کې لوړه ځانګړنه شته.

ځینې وخت دی په نورو لیکوالانو انتقاد کوي، خو دې انتقاد نه یې خپل ځان هم نه دی ژغورلی او کله کله پر ځان هم نیوکه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناشعوري، شعوري اوتحت الشعوري شاعري

شعوري او ناشعوري شاعري په حقيقت کې د شعر ليکلو او شعر په خپله ذهن ته راتللو دوه توکي دي.

ناشعوري شاعري هغه ده چې د شاعر ذهن ته فکر او خيال ورشي او هغه د شعر په صنف کې لکه: غزل، قصيده، نظم او نورو کې وليکي. د شاعر خوښه نه وي چې شعر وليکي، بلکې د شعر خوښه وي، چې شاعر يې وليکي.

شعوري شاعري هغه ده، چې کله يو شاعر او ليکوال هر وخت د شعر د ليکلو په فکر او خيال کې وي، فکر کوي، مضمون او موضوع لټوي او غواړي چې د شعر په يو چوکاټ کې شعر وليکي. دغه ډول شاعري پکه وي او ليکوال ته يې شاعر نه بلکې نظم ليکونکی ويلای شو. مثالونه يې زموږ او ستاسې په ټولنه کې ډېر زيات شته، دوی فکر کوي چې شاعران دي خو په اصل کې دوی شعر نه پېژني.

سيد رسول رسا د ناشعوري او شعوري شاعرۍ په اړه وايي: (کوم شعر چې د قوي شاعرانه تجربې، مشاهدې، جذبې او احساساتو ادبي اظهار وي او د شاعر له احساساتو او جذباتو د رالړزېدلي وريځو نه لکه د پشکال د باران خپله راڅڅېدلی وي، د شاعر شاعرانه تجربه دا مجبوره کړي، چې د الفاظو په شکل کې يې ښکاره کړي، د دې جذباتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساساتو تجربه شوې مثال د هغه ماشوم دی، چې نوی پیدا او ډېر سپېڅلی وي دا به خامخا چغې او کړېږي وهي او خپل اظهار به کوي نو شاعر که په شعر کې د یو داسې تجربې اظهار کوي نو دې ته ناشعوري (راغلي) شاعري ویلای شو، دې خیال ته الهام وايي او شاعر یې په شعر ویلو او لیکلو مجبور کړی دی دا د شاعر مجازي اولاد دی او د شاعر نه زېږېدلی دی.

بل هغه خیال یا شعر دی، چې شاعر د ډېر غور او فکر کولو نه پس د نظم په لباس کې په لیکلو مجبور شوی وي، یانې خیال خپله د ښکاره کېدو لپاره بې قراره نه وي، شاعر په طبیعت زور اچوي او داسې اراده کوي چې طبیعت یې غواړي او که نه غواړي خامخا به شعر و نه لیکي. نو داسې اشعار چې د احساساتو، عواطفو او خیالاتو تر تاثیر لاندې نه وي لیکل شوي، بلکې غواړي په ارادي ډول پورته توکي په خپل نظم کې راوړي، دې ته شعوري شاعري ویل کېږي.

ناشعوري ته شعر او شعوري ته نظم ویلی شو په ناشعوري شاعري کې کوښښ، غور او فکر کول په کار دي د الفاظو بدلول رابدلول هم ځینې وخت صورت نیسي.

په شعوري ډول که څوک کوښښ وکړي چې ښه شعر تولنې ته وړاندې کړي، امکان لري، خو کوښښ او فکر کول په کې بیا هم ضروري دی.

که چېرې لعل په نظر کې و نیسو، لعل که په زحمت سره جوړ شي، نو ښایست یې یو په دوه شي، ځکه چې لعل خو په تیګو کې بند رابند وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو که صنعت ګر هر څومره په تيګې باندې کوښښ وکړي، د لعل ځای نه شي نيوی، زحمت يوازې لعل ته ښکلا ورکولای شي نه تيګې ته.

په ناشعوري شاعرۍ کې فکر کول او زحمت ويستل، ترڅو ښه شعر وليکي، داسې مثال لري، لکه څوک چې د لعل په جوړولو کې زحمت وباسي او په شعوري شاعرې کې فکر کول ترڅو ښه شعر جوړ کړي، داسې مثال لري لکه څوک چې د تيګو په جوړولو باندې زحمت وباسي او غواړي چې د لعل ښکلا په کې پيدا شي.

الطاف حسين حالي وايي: د اکثرو خلکو دا نظر دی کوم شعر چې د شاعر د ژبې يا قلم نه فوراً او په غير ارادي ډول ووځي، ښه شعر وي، نسبتاً هغه شعر ته چې په ډېر دقت او فکر کولو ليکل شوی وي. اولنې ډول ته ناشعوري او دويم ته شعوري شاعري ويلی شو.

د روم مشهور شاعر (ورجيل) به سهار خپل شعرونه ليکل او بيا به يې پرې ټوله ورځ فکر کاوه او هغه به يې اصلاح کول او دا به يې ويل چې: (يږه خپل بدرنګ بچی دغه ډول په څټلو پاکوي او ښايسته کوي يې)

(ملټن) داسې نظر لري او وايي: نظم هم په ډېر زحمت او کوښښ ليکل کېږي او په هر نيم بيتي کې بايد ډېر دقت وشي، ډېر ولوستل شي او د الفاظو بدلول رابدلول په کې وشي، د فارسي ژبې يو شاعر د شعر د جوړولو حالت داسې بيانوي:

برای پاک لفظي شبی بروز ارد

که مرغ و ماهی باشند خفته او بيدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نظم چې د عامو په زړونو يې تاثير کړی دی، که هغه لنډ وي يا اوږد خو په تکليف او زحمت ليکل شوی وي، دا سې نه ده چې بې تکلفه ليکل شوی وي.

(ابن رشيق) وايي: شاعر چې شعر وليکلو په هغه باندې بيا بيا فکر کول او لوستل ضروري دی او څومره چې امکان لري په شعر کې ښکلا پيدا کول ضروري دی. بيا هم که په شعر کې ښکلا پيدا نه شوه، د هغې د الفاظو په بدلولو رابدلولو کې هيڅ فکر کول په کار نه دي، اکثره شاعران د شعر په نيم بيتو کې الفاظ بدلوي، رابدلوي چې په دې باندې د شعر خامي نه لرې کيږي.

په ناشعوري شاعري کې شعري تجربې ته ډېره اړتيا وي دغه شاعرانه تجربه شاعر دې ته مجبوروي، چې د الفاظو په شکل کې يې ښکاره کړي. ځکه چې د دغسې تجربې مثال د نوي ماشوم دی، دا به خامخا چغې وهي او خپل ځان به ښکاره کوي، دې ته د شاعر مجازي اولاد ويلی شو.

خوشحال خټک په دې هکله وايي:

زه د شعر په کار هيڅ نه يم خوشحال
ولې خداې مې کړ په غاړه دا مقال
رنګ زما د شعر هيڅ سره ساز نه دی
لکه سپی راپسې ګرځي په دنبال
که د شعر ويل هر څو د صفت وي
بيا به شعر کې پيدا شي انفعال

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره به ده نه ده چا ویلې
په تحقیق چې شعر حیض دی د رجال
په جهان تر شاعریه بد څه نشته
خدای اخته مه کړه سړی په دا جنجال
تفکر د شاعر به لړمون شین کا
د غلیم دې په نصیب شي دا اشغال
یو یې زړه له واړه خلکو نه جدا شي
بل اخته وي د خپل فکر په تکال
بل که هر څو در ګوهر به یې په شعر
عیب جویي او جاسوسي کا د افعال
هر شاعر یې په ویلو ګوتمندي کا
که په شعر کې ته من یې دی مثقال
بل په هسې شان دروغ په کې ویل شي
چې په خپله دروغژن شي دم در حال
د یار مخ د لاله ګل سره نسبت کا
د لاله د یار له مخه څه مثال
د معشوقې توري سترګې غمزه ګرې
په غزل کا لکه سترګې د غزال
خلک خوښ په خوب ویده وي دی بې خوبه
د پالنګ د پاسه خوب وي پرې محال
پټ په پټه وبله اوړي تر صباحه
د ښه لفظ د ښه مضمون په اتصال

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د شعر فکر ورشي په نمانځه کې
د اعوذ ذال بدل کاندي په دال
چې د شعر فکر ورشي په خواړه کې
سپيني وريژې په مزه شي ورته ګال
دا همه د خپلې پوهې نتيجه ده
چې شاعر له فکره نه وي فارغبال
فلاکت د شاعريه سره مل دی
که شاعر سره لري جاه و جلال
سمرقند و بخارا څه هغه زه يم
چې جهان بخښم د کښلي مخ په خال
ما دا څو توکه چې وليدل د شعر
هی توبه د شاعريه له افعال
چې د شعر فکر ورشي په مجلس کې
نور عالم خندا هوس کا دی ملال
کشکې زه بې ژبې ګونګ وای شاعر نه وای
تر دا هسې ګويا يبه ښه وم لال
که رښتيا وايم چې غور مې پرې وکړ
شعر کار دی د ملوک يا د هزال
در ګوهر يا د لولۍ يا د بې بې دی
شه قماش يا د بادشاه يا د رزال
د دوزخ لمبې به کار په عاشق نه کا
چې يې تاو د دروني دی په دا دال

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانـــايي علــم و حکمــت پــه کــې زيــاتېږي
څــوک چــې ښــه وکــا د شــعر اســتعمال
د خبــرو تنســتې چــې واو بــدې شــي
څــوک اطلــس او بــي پــه شــعر ځنــې شــال
کرامــت دی يــا اعجــاز دی يــا جــادو دی
چــې پــه شــعر راپيــدا شــي لــه قــوال
شــعر کــار دهــر فاســق د فــاجر نــه دی
نــه د هــر يــو وړ ســترګي د کنګــال
شــعر کــار يــا د ســالک يــا د مالــک دی
د عاشـــق دی د دردمـــن دی د ابـــدال
د هغــه شــاعر دانــې وشــه پــه ژبــه
چــې د شــعر در دانــې پلــوري پــه مــال
چـــې د شــعر شــاعريه مــذکور وشـــو
څــه خــو غــوږ باســه زمــا پــه حســب حــال
قصــيدې لــرم غــرا لــه هــره بابــه
پــه حکمــت پــه نصــيحت کــې مالامــال
پـــه تعريـــف د دلبرانـــو غزلونـــه
پــه صــفت د ســترګو وروځــو زلــف و خــال
ربــاعي ده کــه قطعــه کــه مثنــوي ده
همګـــــي واړه ګـــــوهر دي درو لال
پــه پارســي ژبــه کــې نــور تــر مــا بهتــر دی
پـــه پښـــتو ژبــه مــې مــه غــواړه مثــال

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبيعت مې عطايي نه د تحصيل دی
که خبر يم د املا په استعمال
يو ساعت به مې په درس شل مې په ښکار و
کله ښکار پر ښوم په کسب د کمال
د جهان تحصيل به کل واړه زما و
که اخته نه وای د ښکار په اشتغال
غاښ و تلی ږيره سپينه لا تر اوسه
باز په لاس ګرځم په غرونو په جبال
بندوبست د پښتو شعر ما پيدا کړ
ګنه شعر د پښتو وغير سيال
نه يې وزن نه تقطيع نه يې عروض و
دوه مصرع يې د خفيف بحر دوه طال
د غزل نه يې مطلع نه يې مقطع وه
نه صفت نه يې تشبيه نه يې مثال
مګر زه يې چې ګويا په شاعری کړم
پښتانه يې پوهول ايزد تعال
په دا بندوبست به نور تر ما بهتر شي
پس له ما چه کا د شعر قيل و قال
نن زما خو يو څو دي برخوردار ښه
چې په دا هنر کې نه لري همال
ګلستان زما د نظم شګفته شو
پرې وهي شيدا بلبله پروبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلدستې يې لور په لور په ملک خورې شوې
تــر کابلــه تــر کشــمېره تــر بنګــال

هــر مضــمون تــه چــې د زړه توجــه وکــړم
طبيعـــت يـــې راکـــوي پـــه اســـتعجال

درست ديوان مې لکه باغ د علم ګنج دی
پـــه کـــې هـــر رنګـــه ګلونـــه هـــر نهـــال

د ديوان مې که بيت بيت سره حساب کړې
تـر ځلو ښـت زره بـه تېـر شـي پـه سـړ کـال

پـه غـزل پـه ربـاعي مـې زړه مئـېن دی
چـــې مـــداح يـــم د دلبـــرو د جمـــال

پـــه محشـــر بـــه مينـــه وړمـــه د ســـنګدلو
کـــه پـــه دا درنېـــږي تلـــه د اعمـــال

زه مــداح د هېچــا نــه يــم بــې د ښــکلو
د نـــور چـــا پـــه صـــفت نـــه لـــرم يـــو قـــال

پـــلار نيکـــه مـــې شـــهيدان وګورتـــه تللـــي
ښـــت پـــه ښـــت مـــې دا هنـــر دی ال پـــه ال

کـــه د جنګـــو د پرهـــارونو درتـــه وايـــم
چـــې لـــه درده مـــې پـــه تـــن و لکـــه نـــال

يـــو پرهـــار بـــه مـــې لا روغ پـــه وجـــود نـــه و
بـــل پرهـــار بـــه مـــې پـــه تـــن و يـــا پـــه ډال

دا همـــه زمـــا د تـــوري صـــدقه ده
ښـــتانه چـــې پرګنـــې خـــوري ســـيور غـــال

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـن بـه درسـت د هندوسـتان دولـت د دوی و
پښـــتانه کـــه کـم همـــت نـــه وای جهـــال
يګانـــه ځوانـــان کـــه زر مـــا ســـره وای
نـــور زمـــا و پـــه پنجـــاب بانـــدې يرغـــال
کـــه هرڅـــو يـــې ســـازومه نـــه سـازېږي
پښـــــتانه دي د نـــــرږو کـــــانږو ديـــــوال
هـومره قـام هـومره عـالم سـردار يـې هسـې
ســـرګردان ګـــرزي پـــه تېښـــته دا منـــوال
تـــر اويـــا کلونـــو تېـــر شـــو زمـــا عمـــر
زړه هغـــه دی تـــن پيـــری کـــړ پايمـــال
خدايـه هـومره مهلـت ورکـړې پـه دنيـا کـې
چـــې کـــاږه کارونـــه ســـم کانـــدي خوشـــحال

**(۵۱)**

ځينې خلک د شاعر ناشعوري عمل ته د الهام لفظ استعمالوي، دا خبره ښه ښکاره واضحه ده چې د پيغمبر الهام حقيقت وي او هغه دا حقيقت خلکو ته د پېغام په ډول پوره پوره رسول غواړي. دې کې هغه د خپل ځان نه څه کمی او زياتی نه شي کولای. بلکې څنګه چې پرې يو ايت نازل شوی وي په هماغه ډول يې اولس ته وړاندې کوي. د دې برعکس د شاعر الهام او د ده ادبي حقيقتونه حقيقي نه وي. شاعرانه حقايق د شاعر په تصور کې حقيقي وي خو د ده ادبي اظهار ورته حقيقي رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي او دې ته ادبي حقیقت وايو. یعنې د الهام پرځای چې د ناشعوري لفظ استعمال کړو ، ښه به وي.

په شعوري شاعري کې شاعر یا لیکوال هر وخت د شعر د لیکلو په فکر او خیال کې وي، فکر کوي، مضمون او موضوع لټوي. یو شاعر ګوتې خپلو ملګرو ته وویل: زه په نیمه ورځ کې څو شعرونه جوړوم، دا کار بل څوک نه شي کولای، په دوی کې یو ډېر هوښیار او پوهېده چې ښه شعر کوم دی او څنګه جوړېدای شي. خپل شاعري ملګري ته یې وویل: دا چې ته په دومره لږ وخت کې ډېر شعرونه لیکې. دا شعرونه نه بلکې نظمونه دي او په ډېر لږ وخت کې ماهیت، اصلیت او حقیقت د لاسه ورکوي.

د بېلګې په ډول لاندې نظم وګورئ چې په شعوري ډول لیکل شوی دی.

راغلې یم

اشنا دا ستا لیدو ته یو ځل بیا راغلې یم
په ډېرو امیدونو زه په غلا راغلې یم
د دې لپاره یاره چې احوال درځنې پوښتم
له ډاره په لړزه دا ستا تر خوا راغلې یم
په مینه کې جفا کله ښه ښکاري ای ملګرو !
دیدن ته مې د یار نن په موسکا راغلې یم

(۵۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتني نظم ته هېڅکله شعر نه شو ویلای، که چېرې نظم ته شعر وایو، په حقیقت کې مو ږ شعر نه پېژنو. که چېرې په شعر کې شعریت (د شعر بنسټیزې اجزاوې) موجودې نه وي، دې ته نظم وایو، لکه پورتنی نظم یې ښه مثال دی، دا سې ډېر نظم لیکونکي شته چې ځانته شاعر وایي.

که چېرې د یو شاعر ذهن ته په ناشعوري یا الهامي ډول د فکر، خیال او احساساتو نه ډکه مفکوره په غېر ارادي ډول په شعر کې راشي او هغه یې ولیکي، د شاعر خوښه نه وي چې شعر ولیکي، بلکې د شعر خوښه وي چې شاعر یې ولیکي، دې ته ناشعوري شعر وایي.

حمید مومند وایي:

ما چې وپیل دا زر په باریکي
غورږو ورکړه یو له بل مبارکي
شعر نه دی دا خوناب د زخمي زړه دی
یا وتلی وروستی دم له خولې د مړه دی
یا نغمه د نیم بسمل مرغه د خولې ده
یا مجنون ته معما ښکلې لیلی ده
یا د وینو اباسین وهلی موج دی
یا له ښاره د حیرت وتلی فوج دی
څو وهي د فکر ژامې باندې شخوند
زیاتوي زما خبرې هو مره خوند
نه دې کار د هر نااهل بوالهوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــې قــدم ږدي د دې نــاوې پــر جــوس
کــه يــې څــوک لــه مخــه پورتــه کــا پلــو
د ښايســت مخــې يــې نســته هــېڅ پلــو
دا ګــوهر لــه نازکيــه پېيــه نــه شــي
ازمېيلــى دوبــاره ازمويــه نــه شــي

دلته حميد مومند د هنري شعر چې شعريت په کې وي، ښکاره کوي او شعر په پېيلو ښکلو الفاظو تعريفوي او څرګند وي.

حميد د شعر او نظم فرق کوي او هر ناظم ته حق نه ورکوي چې د هنر د ناوې په ښکلي جرس کې قدم کېږدي.

د حميد هنري استعداد هغه وخت ښه ښکاره کېږي، چې سړى د ده د هنر استعمال په مختلفو اړخونو کې وګوري. پورتني شعر ته ناشعوري (راغلى) شعر ويلى شو. (**۵۳**)

وراثت او محيط (چاپېريال) د شخصيت په تشکيل او همدارنګه د انسانانو حتى د ټولو ژونديو موجوداتو په ټولو چارو کې جوړونکى رول لري.

له وراثت څخه موخه او منظور ټول هغه رواني او بدني مشخصات دي چې د نسل د توليد له لارې له مور او پلار (والدينو) څخه بچيانو ته لېږدول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وراثت تاثيرات په بدني مشخصاتو د انسان قد، قواره، د سترګو رنګ، جسماني قوت او د بدن د اعضاوو د ځينو نورو برخو ورته والی دی، چې دغه ورته والی ځينې وخت والدينو نه انتقال مومي.

خو د وراثت تاثيرات په رواني مشخصاتو د انسان، زکاوت، استعداد، علم، پوهه، قهر، غوسه، خوشحالي، خفګان او ځينې وخت شاعري او ليکوالي هم والدينو نه انتقال موندی شي. (۵۴)

دا هم امکان لري، چې ځينې وخت شاعري يا ليکوالي په وراثت کې انسان ته پاتې شي او د يو ليکوال په روحياتو او نفسياتو کې د شاعرۍ استعداد او زکاوت پروت وي، چې د کورنۍ نه ورته پاتې وي.

په پښتو ادبياتو کې داسې ډېرې مثالونه موجود دي، د خوشحال خان په ادبي مکتب کې د هغه ډېری لارويان د هغې د کورنۍ زامن او لمسيان دي، چې د منځنۍ دورې پورې اړه لري.

په لرغونې دورې کې يې مثال شيخ اسماعيل دی، چې د بيټ نيکه زوی و او په معاصره (اوسنۍ) دورې کې يې ډېر مثالونه شته خو د بېلګې په ډول د شمس الدين مجروح زوی بهاوالدين مجروح يې ښه مثال ښودلی شو. مونږ نفسياتي او روحياتي کره کتنه لرو، دغه کره کتنه ډېره لرغونتيا نه لري او د نوي عصر زېږنده ده.

د دې کره کتنې بنسټ (فرويډ) ايښی دی، په دې کره کتنه کې، کره کتونکي هڅه کوي، چې په ادبي اثر کې د ليکوال تحت الشعور مطالعه کړي او هغه ټول روحي او نفسياتي عوامل ځانته معلوم کړي چې د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي اثر د رامنځ ته کېدو سبب ګرځېدلی وي، دغه کره کتنه ژورې مطالعې ته اړتیا لري.

دا چې په ارثي خصوصیاتو کې د انسان زکاوت، استعداد او پوهه انتقال موندی شي، نو شاعري او لیکوالي هم د یو انسان په زکاوت او استعداد پورې اړه لري او انتقال موندی شي، که چېرې یو شاعر یا لیکوال ته شاعري یا لیکوالي ارثاً پاتې شي، دې ته تحت الشعوري شاعري ویلی شو چې مثالونه یې پورته ذکر شو.

دا چې لیکوالي یا شاعري ځینې وخت په وراثت کې انتقالېږي او مثالونه یې پورته ذکر شول غواړم په درېیو ادبي دورو کې داسې مثالونه تاسې(لوستونکیو ) ته وړاندې کړم، چې د دوی شعرونه هم یو اندازه یو د بل سره نږدې والی ولري.

د بیټ نیکه مناجات:

لویه خدایه، لویه خدایه
ستا په مینه په هر ځایه
غرولاړ دی درناوې کې
تول ژوي په زارې کې
دلته دې د غرو لمنې
زموږ کېږدۍ دې په کې پلنې
دا وګړي ډېر کړې خدایه
لویه خدایه، لویه خدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتـــه لـــړ زمـــوږ اور بـــل دی
و ورځ کـورګی دی وور بورجـل دی
مینـه ستا کې مـوږ میشته یـو
بـل د چـا پــه ملـه تلـه نـه یـو
هسـک او مځکـه نغښـته ستا ده
د مــــړو وده لــــه تــــا ده
دا پالنــــه ســـتا ده خدایـــه
لویــه خدایــه، لویــه خدایــه

**(۵۵)**

مناجات پټې جرګې او د راز خبرو ته ویل کېږي او الله تعالی ته د بنده عاجزي، خواري او احتیاج وړاندې کول دي او د الله تعالی څخه د خپلو اړتیاوو د پوره کولو غوښتنه، بلنه، دعا او زاري کولو ته وایي لنډه دا چې پـورتنی شعر مـذهبي رنـګ لـري اوس د بیـټ نیکـه د زوی شـیخ اسماعیل شعر ګورو:

اسماعیل پاړکی:

تېښـــته وکـــړه لـــه ابلیســـه
چې ابلـیس لعـین ښـکاره شي
هلتـــه ورکـــه پلوشـــه شـــي
تـــول نـــړۍ تـــوره تیـــاره شـــي
ســـړی وران ســـي لـــه ابلیســـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غـوځ د پـس پـه کتـاره سـي
کـه هـر چـا ابلـیس خـرڅ کـړ
نــویي هلــه ننــداره ســي
کـه سـړی ابلـیس تـه پـړ سـو
نـو پـر کـور د ویـر نـاره شـي

**(۵۲)**

پورتنی شعر په لرغونې دورې کې د بیټ نیکه د زوی شیخ اسماعیل شعر دی، د دواړو شعرونو ته چې موږ وګورو ، له ورایه معلومېږي چې مذهبي رنګ لري. شیخ اسماعیل ته شاعري له خپلې کورنۍ نه ارثاً پاتې وه او د پلار او زوی د شعرونو ځانګړنې یو اندازه یو له بل سره ورته والی لري، چې دې ته تحت الشعوري شاعري ویلای شو.

په منځنۍ دورې کې که د خوشحال خان ادبي مکتب باندې یو نظر وکړو ، دې د ژوند پـه هـره برخـه کـې شـاعري کـړې ده. خـو د ننـګ او نارینتوب په باب یې ډېر شعرونه ویلي دي. وایي:

د افغــان پــه ننــګ مــې وتړلــه تــوره
ننګیـالی د زمـانې خوشـحال ختـک یـم
په خپـل نـام و ننګ چې راشم لېونی شم
خبـردار کلـه پـه سـود و زیـان دلـک یـم
چې نیـولی مـې دا هـوډ د ننـګ و نـام دی
کــه لــه خپلــه هــوډه واوړم کنیــزک یــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف خان هجري وايي:

تخت و تاج ته به سر کوز د همت نه کا
چې په داد د دهر پوه ازاد مرد دی

په منځنۍ دورې کې د خوشحال خان او د کورنۍ شاعري يې يو اندازه ورته والی لري. دا چې کورنۍ ته يې شاعري په تحت الشعوري ډول پاتې وه، د شعر ورته والی يې هم په همدې ډول يو څه يو شان دی، د خوشحال په شاعرۍ کې عشقي برخه ډېره لېدل کېږي، خو په کورنۍ کې يې هم د (اشرف خان هجري، عبدالقادر، صدرخان، سکندر خان، حليمه خټکه) په شعرونو کې دغه برخه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناول او رومان توپیر او تړاو

په اجتماعي علوموکې ځینې توکي ټولنملی، جامع او مانع پېژندنه نه لري، لکه: شعر او داسې نور توکي.

د هرې ټولنې د ښکلا ارزښتونه، ښه او بدو معیار ټاکنه او داسې نور مسایل سره فرق کوي، نو ځکه د شعر لپاره یو تعریف چې د ټولو خلکو لپاره د منلو وړ وي نه لرو.

ناول او رومان هم لکه د ادب د نورو منظومو او منثورو ډولونو په څېر کومه ځانګړې، ټاکلې، کوټلې او د ټولو له خوا منلې پېژندنه نه لري.

ادبپوهانو یې بېلابېلو ځانګړنو ته په کتنې او پاملرنې یو لړ توضیحي او تشریحي پېژندنې وړاندې کړې دي، چې مشترک ټکي پکې ډېر دي.

ناول هغه نثري کیسې یا داستان ته وایي، چې له لنډې کیسې څخه لوی او د رومان څخه لنډه وي یا ناول هغه نثري کیسه ده، چې کله فرضي او کله حقیقي پېښه پکې ښودل شوې وي، چې د رښتیا ګومان پرې کېږي.

رومان هغه کیسې ته وایي، چې له ناول څخه اوږده وي او د ژوند ډېرې او بېلابېلې خواوې پکې ښکاره شوي وي او د پېښو د یوې ستړې لړۍ پتصویر په ادبي کالب کې ځایوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناول ننني پیشرفته ژانر قدامت په بل شکل ډېر پخوانی دی. په قران کریم او نورو اسماني کتابونو کې د الهي ارشاداتو ډېره برخه د کیسو په بڼه راغلې دي.

د حضرت نوح (ع)، حضرت ابراهیم (ع)، حضرت عیسی (ع) او نورو پیغمبرانو حال د پند او عبرت لپاره د کیسو په ډول بیان شوی دی.

لکه څنګه چې د لیک او ژبې پیدا ښت د حضرت ادم (ع) نه پیل کېږي، دغه ډول د کیسې پیدا ښت هم د ادم (ع) او یا د دې څخه هم پخوانی تاریخ لري.

د لرغون پېژندونکیو د تحقیق پر اساس د لیک تاریخچه د میلاد څخه پنځه زره کاله له مخې پیل شوې ده.

په دې لړ کې لومړنۍ لیکل شوې کیسې د میلاده دوه زره کاله پخوا په مصر کې د ونو پر پوستکو لیکل شوي دي او تر لاسه شوي دي.

دا کیسې د مصر د خوفو کورنۍ په پاچاهانو یا واکمنانو کې دریېیم پاچا ته د هغه زامنو ویلي دي. دا هماغه پاچا و، چې د مصر مشهور احرامونه یې په غوښتنه جوړ شوي دي، چې د نړۍ له مشهورو عجایبو ځینې دي.

له دې وروسته ډېرې ډېرې پخوانۍ کیسې د یوناني ژبې د ایسپ فیبلز په نامه مشهورې دي، چې پښتانه ورته د لقمان حکیم کیسې وايي. د دغو کیسو مجموعه د میلاد څخه دمخه په دویمه پیړۍ کې بیبریس

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلې وې، د دغو کیسو پښتو ژباړه میجر راورټي د ایسپ الحکیم په نامه ژباړلې دي.

په هند کې د پخواني مذهبي کتاب ریګویدا یوه برخه ( برهمن اپیشد ) یې ډېرې کیسې لري. په سانسکریټ ژبې کې کلیله او دمنه هم د یادولو وړ ده.

په فارسي ژبه کې د فردوسي شاهنامه او په پښتو کې ادم خان او درخانۍ، دلی او شهی، یوسف خان او شیربانو او نورې ډېرې ملي ولسي کیسې د یادولو وړ دي.

دغو پورتنیو مواردو او موضوعاتو د هنري نثر لپاره لار هواره کړه او د وخت په تېریدلو د نمونې په ډول ناول او رومان هم پیدا شو.

د ناول لیکنې پیلامه په ۱۷ـ ۱۸ میلادي پېړۍ کې پیل شوې ده. ځینې وایي په اروپا کې پیل شوې ده او بیا ځینې وایې ایټالیا کې پیل شوې ده.

خو د ډېرو پوهانو پر اند ناول اصلا د ایټالوي ژبې د novella څخه اخیستل شوې ده، چې تحت الفظي معنا یې نوې خبره ده.

د ایټالیا د لسو ګرځندویانو لس بېلابېلې کیسې بوکاچیو د ډیکامیرن په نامه خپرې کړې، په لومړیو کې دغه کیسو ته یې د ناولا نوم ورکړی و، وروسته چې په انګریزي ادب کې د دې پر پیروۍ کیسې ولیکل شوې هغه ته یې د ناول نوم ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انګریزي ادب کې لومړی ناول پامیلا په نوم سمویل چرډسن لیکلی دی. بیا په المان کې لوس شاعر هاینه ورته وده ورکړه.

په ۱۹ پیړۍ کې فرانسې د ښه ښه ناول لیکونکي درلودل او بیا روسې کې تولستوی او ماکسیم ګورکي اثار د یادولو وړ دي.

په فارسي ژبې کې لومړني ناول او رومان لیکونکي، لکه: محمد باقر، ناظم حکمت او داسې نور دي.

اردو ژبې ته هم ناول لیکنه د انګریزي ادبیاتو څخه راغلی دی او لومړنی ناول نذیر احمد په اردو ژبې د مرات العروس په نامه لیکلی دی او د دې ژبې نور ناول لیکونکي لکه: عبدالحلیم شرر، منشي پریم چند او داسې نور لیکوالان دي.

د رومان تاریخي شالید له ناوله پخوانی دی. حبیب الله رفیع صاحب په کتابونو او دریابونو اثر کې وایي: ( د ناول پیدا ایښت له رومانه وروسته دی او د رومان پیدا ایښت پخوانی دی. )

اروپایانو په دولسمې او دیارلسمې پېړۍ کې هغو کیسو ته رومان ویلې چې په کومه روماني (فرانسوي، ایټالوي، پرتګالي او داسې نورو )ژبو ویل کېدې.

د پرو ادب څېړونکیو لومړنی رومان د پیکارسیک روایتونه بللي دي، چې په شپاړلسمې پېړۍ کې په هسپانیه کې دود او مروج وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا وروسته په اولسمې پېړۍ کې په انګلستان کې the character په نامه منځ ته راغی، چې د بېلابېلو اشخاصو کرکټرونه او نور حالت پکې راتله.

د انواع ادبي لیکوال سیروس شمیسا وایي: ( په ۱۹ پیړۍ کې رومان د ټولو حماسي اثارو په سرکې ودرید او ډېر پرمختګ یې وکړ. )

په ۲۰ پیړۍ کې رومانونو ډېر پرمختګ وکړ او د اروپا او امریکا په سلو کې ۹۰ رومانونه او ۱۰ نور اثار دي.

په ټولې نړۍ کې روسي رومانونو ډېر ارزښت تر لاسه کړ او د ټولې نړۍ له رومانونو یې ارزښت ډېر دی.

په فارسي ژبې کې لومړنی ناول ناظم حکمت د فرانسوي ژبې نه ژباړلی دی او لومړنی رومان د ( شمس وطغرا )په نو محمد باقر میرزا لیکلی دی.

د نړۍ مشهور ناول لیکونکي ډېر دي، چې د یو څو تنو نومونه دادي: چارلز ډیکنز، ډي ایچ لارنس، چین استن، ایچ جې ولز او داسي نور دي.

په انګلستاني، فرانسوي، امریکایي، الماني، ایټالوي او روسي ژبې کې ښه ښه رومان لیکونکي تیر شوي دي او د دې ټولو ملکونو نه د پنځو تنو نومونه د رومان نومونه یې وړاندې کوم:

۱.تولستوی ( جنګ او سوله ).

۲.بالزاک ( باباګوریو ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳.چارلز ډيکنز (ډيويډ کاپرفيلډ).

۴.استاندال (سور او تور).

۵.هنرى فيلډنګ (ټام جونز).

لکه څرنګه چې د شعر لپاره اساسي توکي تخيل، احساسات، عاطفه، وزن او اهنګ او داسي نور فرعي توکي دي، چې د دغو توکو پر اساس شعر له نظم نه بېلولای شو. (۵۷)

دغه شان ناول او رومان هم اساسي توکي لري، چې د دغو توکو په درلودلو سره ښه ناول او رومان پېژندلای شو.

کيسه، پلاټ، کرکټرونه، مکالمې، منظر ليکنه، ژبه، پيغام او داسې نور د ناول توکي دي.

کيسه، پلاټ، کرکټرونه، تلوسه، منظر کښنه، پيلامه او پايله، په کيسو کې کيسې او داسې نور د رومان توکي دي. (۵۸)

**د ناول او رومان تړاو**: د ناول او رومان تر منځ تړاو په اصلي توکو کې ښودلای شو، د مثال په ډول په دواړو ژانرونو کې کيسه، پلاټ، کرکټرونه، مکالمې، تلوسه، منظرليکنه او داسې نور توکي شريک شته دي، چې د يو ښه ناول او رومان لپاره اړين دي، خو سره له دې چې تړاو يې په دغو توکو کې دی، توپير يې هم په دغو توکو کې دی.

**د ناول او رومان توپير**: د ناول او رومان توپير په لاندې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱.رومان له ناوله پخوانی ژانر دی، چې رومان په ۱۲ ـ ۱۳ م پیړۍ د رنسانس په دوره کې پیدا شوی دی، خو ناول نوی ژانر دی، چې په ۱۸ ـ ۱۹ پیړۍ کې پیدا شوی دی.

۲.د رومان کیسه لویه وي، او د امکان تر حده چې په څو توکونو کې ولیکل شي او ناول په یو ټوک کې لیکل کېږي، خوځینې رومانونه په یو ټوک کې هم شته، لکه: د هوګو بېنوایان.

۳.د ناول په نسبت د رومان کیسه ستره او په زړه پورې وي، ان د یوې پیړۍ مسایل هم پکې راځي. په ډېره پراخه پیمانه کرکټرونه او په کیسو کې کیسې پکې وي او د رومان په مقصد او پیغام په اسانۍ څوک نشي پوهیدای.

۴.رومان لیکونکي په نړۍ کې کم او ناول لیکونکي زیات دي.

۵.د رومان لیکل د ناول په نسبت ستونزمن کار دی.

۶.په ناول کې لوستونکی د پیل او پای نقطې ښه احساسولای شي، خو په رومان کې ستونزمن کار دی.

۷.په رومان کې ځینې وخت خیالي موضوعات ډېر وي، چې د ژوند سره اړخ نه لګوي، خو د ناول موضوعات حقیقت ته نږدې وي، له همدې امله د رومان نه د ناول ویونکي ډېر دي.

۸.په رومان کې ټول اصلي توکي په پراخه پیمانه راوړل کېږي، خو په ناول کې د رومان په نسبت لنډې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې هیومانیزم

د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې هیومانېزم د ګُل او انسان دوستي د یوې څانګې یا جز په ډول تر سترګو کېږي.

هومانېزم (Humanism) لاتیني کلمه ده او معنا یې انسان پالنه، د بشر د اصالت مذهب ته وایي.

(هومانېزم د شرقي او غربي فلاسفه وو له نظره) لیکوال د (محمد رضا جعفري) په حواله لیکي: (هومان: انسان دوست، د همنوعې دوست، بشر دوست ته وایي. هوماني: انسانیت، مروت، شفقت، انساني صفاتو ته وایي. هومانان: انسان دوستان، بشر دوستان او خیر خواهانو ته وایي.) (**۵۹**)

د استاد ګل پاچا الفت د شعرونو یوه برخه هیومانیستي مسایل په هنري ډول وړاندې کوي، دده په شعرونو کې د انسان دوستي، بشر دوستي، انسانیت، مروت، شفقت، خیر خواهي، همدردي، مساوات، عدالت، اتفاق، د انسانانو حقوق او داسې نور ډېر هغه مسایل، چې د انسان د ژوند د پېشرفت پورې اړوند دي، پخپلو منظومو او منثورو لیکنو کې ذکر کړي دي.

د هیومانېزم اصطلاح په پښتو ژبه کې د انسان دوستۍ، انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالنه او د انساني اصالت مکتب له کلماتو سره په معادلت کې کاروي، یا هیومانېزم هغه فلسفه ده، چې انسان ته د خپلو تاملاتو په مرکز کې ځای ورکوي او د ټولو شیانو محور یې ګرځوي او د انساني اصالت، ودې او غوړېدو ښه مناسب شرایط برابروي.

د هیومانېزم اصطلاح د لومړي ځل لپاره په روم کې (Homo) په معنا استعماله شوه، چې د انسانیت معنا ورکوي. (۲۰)

د انسان له پیدا ایښت سره د انسان دوستۍ مفکوره موجوده وه او دغه فلسفي نظر باید د نړۍ له هر انسان سره وي، چې د استاد الفت د شعري کلیاتو زیاته برخه هیومانیستي شعرونه او فکرونه لري.

دغه (هیومانیستي) اصطلاح د بشر دوستۍ او انسان دوستۍ لپاره کارول کېږي، هیومانېزم په څوارلسمو او پینځلسمو پېړیو کې د اروپا په ایټالیا هېواد کې منځته راغلی دی، چې یوازینۍ موخه یې د لرغوني ادب څېړنه وه، هومانست هغه څوک دی، چې د بشري پوهنو په اړه څېړنې کوي، پر هیومانېزم پوهه او له هغې څخه په انساني ټولنو کې له هغې څخه ګټوره استفاده کول او کارول په تېره بیا په انساني ټولنه کې د نېکو او حسنه اړیکو کې ترې کار اخیستل ډېر مهم او ضروري کار دی او د انسان لپاره ډېر اهمیت لري.

د اسلام مقدس دین د انسان بشري کرامت ته په ډېر لوړ ارزښت قایل شوی دی، یعنې انساني کرامت او مقام ته په دومره زیاته اندازه قایل شوی، چې حتا هغې وړې نطفې ته هم د قدر او درنښت په سترګه ګوري او د هغې سقط (زیانول) هم د جنایت په نوم پېژني او په اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریعت کې په دې اړه ځانګړي احکام موجود دي، چې د ژوند له پیل څخه تر مرګه او له مرګ څخه وروسته هم د درنښت او قدر وړ ګڼل شوی دی، انسان په مخلوقاتو کې اشرف ګڼل شوی او له عالي موجوداتو څخه شمېرل کېږي، دی له نورو ژویو څخه ځانګړنه لري، چې په ټولو موجوداتو کې دده غوره والی په عقل، خبرو، بیان او ارادې کې پروت دی او تر ټولو مهمه دا ده، چې خیر رسوونکی دی. (۲۱)

لنډه دا چې د اسلام دین، چې د انسانیت، بشر دوستۍ، مرستې او همدردۍ دین دی، چې پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی له خوا نازل شوی دی، دا هغه مکتب دی، چې په کې شامل ټول عناصر لکه اخلاق، سیاست، اقتصاد، تشکیلات، فلسفي عقاید او افکار، یو له بله سره تړلي او همغږي دي، چې په ټولو کې یې وینه بهېږي او په یوه روح ژوندي دي.

اسلام د انسانیت، عدالت، کرامت او برابرۍ تعبیر دی، اسلام غواړي چې سپېڅلي هیومانیستي قوانین او احکام د انسانانو د عزت او ابرو د ساتنې لپاره برابروي او د خلکو عزت، آبرو، برابري، مساوات، ورورې، مرسته او همدردي ساتي.

په اسلام کې د هیومانېزم فلسفي تاریخ له ټولې نړۍ لرغونی دی او استاد ګل پاچا الفت له دیني علم برخمن او همدارنګه زده کړې یې په مدرسو او جماعتونو کې پیل کړې وې، چې د زده کړو پیل یې دیني درسونه و، نو ځکه یې د محتوا، منځپانګې او معنا له مخې شعرونه هیومانیستي مفکورې ډېرې لري. دغه هیومانیستي مفکورې فلسفه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یونان او داسې نورو هغو ملکونو چې ډېر لرغونی تاریخ لري، منځته راغی، د اروپا د رنسانس په دورې کې غښتلې شوه او ادبیاتو ته یې مخه کړه، هیومانستانو ددې نړۍ پر خوشحاله ژوند د پوهې تر سیوري لاندې او سېدو باندې باور درلود، دغه فکري ډول د منځنیو پېړیو له فکري ډول سره ډېر توپیر لري. (۲۲)

استاد ګل پاچا الفت شعري کلیات د هیومانیستي شعرونو ډېرې بېلګې لري، چې د نمونې په ډول لاندې مثالونه راوړم:

ګوره په سپین مخ باندې تورې زلفې
توره شپه څنګه مهرویان راولي
په ښکلو مینه د هر چا راځي
خواران زما مینه په ځان راولي
د غریبانو او بېوزلو دوستي
سرې په خیر او په احسان راولي
زړونه باغ باغ شي د دوستۍ په هوا
دښمني زړونو ته خزان راولي
دوستي د جنګ او جګړو مخه نیسي
صلح و سلام امن و امان راولي
یو دوست د بل دوست د خوښۍ لپاره
خواري زحمت تکلیف په ځان راولي
د تور و سپین او سره دوستۍ خاطر ته
هیڅ مخ سرې شونډې تور چشمان راولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترګو کور کې سپين او تور چې ګوري
درته د ګڼ ژوند شاهدان راولي
(۲۳)

له انسان سره مينه او محبت، ښه اخلاق او کړه وړه، انسان ته د انسان او خپل ځان په نظر کتل او انسانيت ته احترام درلودل، د هيومانيستي فلسفي برخې جوړوي، چې د استاد (الفت) په پورته راغلي شعر کې څرګند شوي دي.

د استاد يوه څلوريزه ده:

عقايد که مذهبي که سياسي وي
چې اساس يې محبت بشر دوستي و
په هرا ېزم کې چې وي تړي به زار ېږم
په دې شرط چې تش نوم نه وي حقيقي وي
(۲۴)

د هيومانېزم فلسفه په اسلام کې له ټولو اديانو مخکينی تاريخ لري او بايد دغه هيومانيستي فلسفه د غير اسلامي ملکونو نه په اسلامي ملکونو کې ډېر د اهميت وړ او پاملرنه ورته وشي، چې متاسفانه غير اسلامي ملکونه له اسلامي ملکونو نه دغې هيومانيستي مفکورې ته ډېر پام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

۱.هاشمي، سيداصغر، د استاد الفت د شعرونو منځپانګيزه او جوليزه څېړنه، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۴ل کال.

۲. الفت، ګل پاچا، محمد اسماعيل يون په زيار، د استاد الفت نثري کليات (لومړی ټوک)، يون کلتوري يون خپرندويه ټولنه، کابل، ۱۳۸۷ ل کال.

۳.هاشمي، سيداصغر، غني خان فلسفي شاعر، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ل کال.

۴. عبدالغني خان، غني،کليات، د قومونو او قبايلو وزارت، کابل، ۱۳۶۴ل کال.

۵. ببلا ببل، پښتو – پښتو تشريحي قاموس (دويم ټوک)، ميهن خپرندويه ټولنه، پېښور، ۲۰۱۲م کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶.همدا اثر.

۷. شینواری، سر محقق دوست محمد ، د ادب د تیوری اساسونه (دویم چاپ )، یارخپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۳) ل کال.

۸.د استاد الفت شعري کلیات.

۹.همدا اثر.

۱۰.همدا اثر.

۱۱.لېوال، عبدالغفور، د استاد الفت یا ، د استاد الفت فلسفه ،میتودیک خپرندوی، کابل.

۱۲.د استاد الفت شعري کلیات.

۱۳.همدا اثر.

۱۴.همدا اثر.

۱۵.همدا اثر.

۱۶. همدا اثر

۱۷.همدا اثر.

۱۸. الفت، ګل پاچا ، ادبي بحثونه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۷ل کال.

۱۹. روهي، سرمحقق محمد صدیق د الفت، ادبي بحثونه، د الفت یاد ، د قومونو او قبایلو وزارت، کابل، ۱۳۶۱ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰. بېلا بېل، پیدا ګوژي یا د روزنې فن،کندن انټرنیشنل خپرندوی، پېښور، ۱۳۸۴ل کال.

۲۱.د استاد الفت شعري کلیات.

۲۲.همدا اثر.

۲۳.همدا اثر.

۲۴.همدا اثر.

۲۵. کریمي، دوکتوریوسف، روانشناسی اجتماعی، نشرارسباران، ایران،۱۳۸۵ل کال.

۲۶.د استاد الفت شعري کلیات.

۲۷.همدا اثر.

۲۸.همدا اثر.

۲۹.همدا اثر.

۳۰. همدا اثر

۳۱. بېلا بېل، د ښوونکو تربیوي سمینار، خپرندوی د سوبړن کمپټه پېښور،۱۳۸۴ل کال.

۳۲. بېلا بېل، د ښوونکو تربیوي سمینار، خپرندوی د سوبړن کمپټه، پېښور، ۱۳۸۴ کال.

۳۳. ایوبي، محمد نادرفلسفه، صحاف نشراتي خپرندویه ټولنه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښور، ۱۳۸۸ل کال.

۳۴.د استاد الفت شعري کليات.

۳۵.همدا اثر.

۳۶. لېوال، عبدالغفور، د استاد الفت ياد، د استاد الفت فلسفه، ميتوديک خپرندوی، کابل.

۳۷.د استاد الفت شعري کليات.

۳۸.همدا اثر.

۳۹.همدا اثر.

۴۰. باچا خان، عبدالغفار خان، زما ژوند جد و جهد (دويم چاپ)، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه خپرندوی، پېښور، ۱۳۸۷) ل کال.

۴۱.د استاد الفت شعري کليات.

۴۲.هېوادمل، سرمحقق زلمی، ننګيالی دزمانې، د افغانستان کلتوري ودې ټولنه، جرمني، ۱۳۸۱ل کال.

۴۳.رسا، سيدرسول، ارمغان خوشحال، پېښور، ۱۹۲۴ل کال.

۴۴.روهي، سرمحقق محمدصديق، د ښېړنې لارښود.

۴۵. روهي، ښېرندوی محمد صديق، شعر پېژندنه، ميهن خپرندويه ټولنه، پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۶.هاشمي، سيد اصغر، شعرپوهنه، مومند خپرندويه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۲ل کال.

۴۷. هاشمي، سيد محي الدين، ادبپوهنه، اريک خپرندويه ټولنه، کابل، ۱۳۸۷ل کال.

۴۸. هاشمي، سيد اصغر، پښتوژبې ادبي سرلاري، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ل کال.

۴۹.هاشمي، سيد اصغر، د پښتو نظم تاريخ، مومند خپرندويه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۳ل کال.

۵۰.هيوادمل، سرمحقق زلمی، متن څېړنې ميتودولوژي.

۵۱زيور، پوهاند زيورالدين، د پښتو ادبياتو تاريخ منځنۍ دوره، مومند خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۸۹ل کال.

۵۲. ترتيب، رحماني، شفيق الله، نرګسي وږمې، ۱۳۹۱ل کال.

۵۳.حبيبي، پوهاند عبدالحی، د پښتو ادب لنډ تاريخ، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، کندهار، ۱۳۸۷ل کال.

۵۴.سالمي، محمد عالم، د عمومي اروا پوهنې ارونه، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۱ل کال.

۵۵. زيور، پوهاند زيورالدين، د پښتو ادبياتو تاريخ لرغونې دوره، مومند خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۸۹ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵۶**.هېوادمل، سرمحقق زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغوني او منځنۍ دروه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، **۱۳۷۹** ل کال.

**۵۷**.هاشمي، سرمحقق سیدمحی الدین، نثري ادب ډولونه، وحدت خپرندویه ټولنه، ننګرهار.

**۵۸**. هاشمي، سید اصغر، ادبي ژانرونو لنډه پېژندنه، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال آباد، **۱۳۹۲**لمریز.

**۵۹**.روهي، سر محقق محمدصدیق، د پښتو ادبیاتو تاریخ ، دانش، پېښور، **۱۳۸۴**ل کال.

**۶۰**.همدا اثر.

**۶۱**.همدا اثر.

**۶۲**. خټک، خوشحال خان ،دستارنامه، د پروفیسور پردل خان خټک په زیار، پېښور، **۱۹۸۵**م کال.

**۶۳**.د استاد الفت شعري کلیات.

**۶۴**.همدا اثر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتوادب نوې ښکلا او د هاشمي د ادبي پنځونوهارونه



د پښتو په معاصره دوره کې د ادب د اسمان پرمخ نوي ستوري را ښکاره او ادبي څېړنو او هنري ليکنو وړانګويي د پښتو ادب په خړما ښامي باندې د شفق روښانه رڼا خوره او ولوروله، چې اوسمهال هم د ادب په اسمان کې يو شمېر نوي ستوري ځرکونه وهي او ورځ تر بلې د خپلو څېړنو او پنځونو پلوشې تر لرې واټن پورې غزوي او د خپلو ادبي پنځونو څخه د پښتو د ادب ناوې ته تلپاتې هارونه جوړوي.

اوسمهال د ځوانو ليکوالو په لړکې د ښاغلي هاشمي ستورى د ختيځ د ادب په اسمان کې د هر چا پاملرنه جلب کړې. نوموړى په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چاپیریال کې ژوند کوي، چې هلته استاد پوهاند رښتین، قیام الدین خادم او ګل پاچا الفت وینو هم له دې سیمې څخه په ادبي ډګرکې لوی همت او هنرونه اخیستې و چې او سمهال یې د پښتو د ادب په بڼ کې هر ډول ګلان غوړیدلي او ګڼ شمېر ادبي بوراګان ترې خوند اخلي. سید اصغر هاشمي ټوله کورنۍ په علمي روښانتیا باندې ښکلې ده چې پلار (علمي رتبه، پوهنمل سید رحمن هاشمي) او سمهال د ننګرهار په ښوونې او روزنې پوهنځي کې استاد، نیکه یې سید عبدالمنان هاشمي د خپل وخت لومړنیو کسانو څخه و چې د هیواد په پلازمینې (کابل) دارالمعلمین کې یې زده کړې پای ته ورسولې، د هاشمي دوه وروونو په هالند او هندوستان کې د ماستري زده کړې کړي دي او او سمهال په خپل هیواد کې په بېلابېلو ادارو کې دندې ترسره کوي.

د انګلستان د نامتو لیکوال او اروا پوه ډاکټر سمایلز په وینا د انګلستان خلک پر خپل ځان باندې تلپاتې ویسا لري او هر کار په ذوق سره سرته رسوي، نو په همدې اساس انګلستان وګړو پرمختتک کړی او د بهرنۍ هڅې پرځای د انسان خپل داخلي هڅې یو انسان د بري منزل ته په لنډ واټن کې رسوي. د نوموړي د خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تایید همدا حس او هڅه د ښاغلي هاشمي په وجود کې شته او د همدې هڅو په اساس شپه او ورځ د کتابونو مطالعې، څېړنو او تخیلق ته ځانګړې کړې ده او د ډاکټر سمایلیز په وینا د انسان په پرمختګ کې د هغه مسلک سره د نوموړي مینه هم اړینه ده چې اصغر دا ځانګړتیا هم لري د ادب، د مطالعې او ادبي پنځونه په لټه تلپاتې زیارګالي، نوموړي په کم سن کې ګڼ شمېر ادبي اثار د پښتو ژبې د غنیتوب په موخه ډالۍ کړي دي.

ښاغلی هاشمي څېړنې، تخلیق تر څنګ په ژباړه کې هم ښه وړتیا ښودلې ده، چې یو شمېر اسلامي کتابونه یې له فارسي څخه پښتو ته ژباړلي دي او د نوموړي ځینې اثار په دري او انګلیسي ژبو باندې د نورو لیکوالو له خوا ژباړل شوي دي.

دا هم د نوموړي د چاپ شوو اثارو لړ لیک:

**څېړنې**:

۱: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: د نظم تاریخ(لومړی او دویمه دوره)، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۲ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲: هاشمي، پوهنیار سید اصغر: د استاد ګل پاچا الفت د شعرونو منځپانګېزه او جولېزه څېړنه(د ماسټرۍ تېزس)، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ل کال.

۳: هاشمي، پوهنیار سید اصغر: ادبي وړانګې، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ل کال.

۴: هاشمي، پوهنیار سید اصغر: د الفت مرغلرې( سریزه، زیاتونه او وېپانګه)، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ل کال.

۵: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: شعر پوهنه، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۱ل کال.

۶: هاشمي، پوهنیارسید اصغر: د څېړنې بنسټونه (د تحقیق فن او لارې چارې)یار خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۴ل کال.

۷: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: بو لـله لـه پیلـه تـر خوشحاله، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۱ل کال.

۸: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: ادب پوهنې آرونه، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۱ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹: هاشمي، پوهیالی سید اصغر هاشمي: غني خان فلسفي شاعر، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۲ل کال.

۱۰: هاشمي، پوهیالی سید اصغر هاشمي: ادبي مرغلرې، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۲ل کال.

۱۱: هاشمي، پوهیالی سید اصغر هاشمي: ادبي درو تاکنه، ۱۳۹۲ل کال.

۱۲: هاشمي، پوهیالی سید اصغر، د پښتو ژبې ادبي سرلاري، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ل کال.

۱۳: هاشمي، پوهیالی سید اصغر، د لیک او لوست اسانه زده کړه، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۱ل کال.

۱۴: هاشمي، پوهیالی سید اصغر، ادبي مرغلرې(دویم ټوک)، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۲ل کال.

**تخلیقات**:

۱: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: برخلیک(ناول)، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۱ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲: هاشمي، پوهیالی سید اصغر، د فکر بیان (لنډې نثرې ویناوې): ۱۳۹۳ل کال.

۳: هاشمي، پوهنیار سید اصغر: د فکر پلوشې، ۱۳۹۴ل کال.

**ژباړې**:

۱: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: د بهلول نصیحتونه، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ل کال.

۲: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: د حضرت محمد (ص) لنډ ژوند لیک، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ل کال.

۳: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: د حضرت ابوبکر صدیق (رض) لنډ ژوند لیک، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ل کال.

۴: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: د حضرت عمر (رض) لنډ ژوند لیک، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ل کال

۵: هاشمي، پوهیالی سید اصغر: د حضرت عثمان (رض) لنډ ژوند لیک، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د حضرت علي(رض) لنډ ژوند ليک، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ل کال

**راټولونې**:

۱:هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د ادبي ژانرونو لنډه پېژندنه، ګودر خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ل کال

۲: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د ادبي اصطلاحاتو سيندګی، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ل کال.

۳: هاشمي، پوهيالی سيد اصغر: د استاد ګل پاچا الفت ستاينې (راټولونه او سريزه)، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ل کال.

**چاپ ته تيار اثار**:

د پښتو ژبې ادبي سرلاري( دويم او دريېم) ټوک، نړيوالې ادبي څېړې، ادبي نظم ډولونه او پيدايښت يې، د لرغونې دورې نثري اثاراو پيدايښت يې، د لوديانواوسوريانوليکوال، اخلاق د امام غزالي له نظره، شاعران او مشاهير، د پښتو ژبې تاريخ،د فکر يون، ادب تيوري او ادبپوهنې بنسټونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سمهال نړۍ د ساینس او ټکنالوجي د پرمختګ سره د انساني ژوند په ګڼو برخو کې اسانتیاوې رامنځته شوي دي او د علمي پرمختګ په موخه هم او سني لیکوال د همدې انټرنیټي وسایلو څخه کار اخلي چې ښاغلی هاشمي هم ورسره بلد تیا لري او هم هره ورځ د نوموړي ادبي، سیاسي، ټولنیزې او اروا پوهنیزې مقالې د پښتو په بیلا بیلو ویبپاڼو کې خپریږي چې تر دې مهاله یې د مقالو شمېر نژدې ۲۰۰ ته رسیدلي دي.

په اتلسمه پېړۍ کې په فرانسه کې یو فیلسوف تېر شوی دی هغه وایي کوم انسان چې د تفریح په ارزښت پوه نه شي نو هغه کس د کار کولو وړتیا هم نه لري خو ښاغلي هاشمي په دې ډګر کې هم مخکښ دي، نوموړی د شلو کلونو راهیسې د پهلواني او داسې نورو لوبو په برخه کې ښه ځلیدلی دی چې لوبې یې د هیواد په داخل او بهر کې ګټلي دي. نوموړي د ادبي او فرهنګي هڅو تر څنګ هره ورځ یو ځانګړی وخت د سپورت تمرین له پار هم ټاکي.

په اسلامیت او افغانیت مین

پوهنیار فهیم بهیر

د البیروني پوهنتون استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانى ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور وداني

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (محبوب الله خان ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادبي وړانګې



سید اصغر هاشمي

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۴۹

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**